# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۹٤ ګڼه / یکشنبه ۲۱ شعبان‌المعظم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۳ حوت ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۳مارچ ۲۰۲٤ میلادي


## د لغمان، پکتیکا او ارزګان والیانو دندې پیل کړې

مولوي شبېر احمد حقاني د لغمان د نوي والي، مولوي عنایت الله شجاع د روزګان د نوي والي او مولوي عبدالخالق عابد د پکتیکا د نوي والي په توګه دندې پیل کړې.د لغمان نوی والي مولوي شیراحمد حقاني د یوې غونډې په ترڅ کې د کورنیو چارو وزارت د لومړي معاونیت مشاور فرید احمد شریفي له لوري معرفي شو.مولوي شبېر احمد حقاني د معرفت په غونډه کې وویل چې تغیر او تبدیل د امارت یو اصل دی او د چارو د ښه ترسره کولو په برخه کې به له هېڅ ډول هڅو دریغ و نه کړي.ورته مهال دې ته ورته غونډو په ترڅ کې د روزګان نوی والي مولوي عنایت الله شجاع او د پکتیکا نوی والي مولوي عبدالخالق هم خپلې دندې پیل کړې.

## د جینوا کال عمومي رییس:
# د اسلامي امارت مثبت انځور به له نړۍ سره شریک کړو



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د جینواکال له عمومي رئیس الن دلترو، د جینواکال د نړیوالو اړیکو له مسئول الکساندر مونافو او په افغانستان کې د دغه بنسټ له مسئول فهد عباسي سره لیدنه کړې.په دې غونډه کې د جینواکال عمومي رییس ویلي، له اوږدې مودې را په دې خوا له اسلامي امارت سره په اړیکه کې دی او همکاري لري.نوموړي زیاته کړې؛ په افغانستان کې سرتاسري امنیت تامین دی، امنیتي او پوځي اداري له خلکو سره همکاري لري او د اسلامي امارت پوځي منسوبین له خلکو سره مناسب چلن لري.د نوموړي په وینا؛ دغه مثبت ټکي به له نړیوالې ۷مخ

## غزه کې د صهیونیستي رژیم وحشت؛
# ملګري ملتونه: د مرستو په موخه راټول شوي کسان په مرمیو لګېدلي



ملګري ملتونه وایي، چې د پنجشنبې په ورځ د مرستو په موخه راټول شوي ډېری کسان په مرمیو لګېدلي.د تېرې پنجشنبې په ورځ صهیونیستي یرغلګرو ځواکونو د غزې ترانګې په غزه ښار کې د مرستو ترلاسه کولو په موخه د راټولو شویو فلسطینیانو په ګڼه ګونه ډزې ۷مخ

# د کابل ژوبڼ ساحې ته پراختیا ورکول کېږي

**شریعت**: کابل ژوبڼ هېواد کې یوازینی ژوبڼ دی، چې د شاهي کورنۍ لخوا په ۱۳٤۶ کال کې جوړ شوی خو مسوولین یې وایي چې راتلونکي کال کې به د کابل ژوبڼ ۱۰۵ جریبه نور پراختیا ومومي ځکه اوسنۍ ساحه یې نسبتاً کوچنۍ ده اود حیواناتو داوسېدولپاره بسنه




نه کوي. دغه ژوبڼ کې ۱۰۰ ډوله حیوانات شتون لري، چې شمېر یې نږدې ۶سوه ته رسېږي. د چارواکو په وینا هڅه مو دا ده، چې دکابل ژوبڼ سربېره په ځینو زونونو کې هم ورته ژوبڼونه ولرو، تر څو مو هېوادوال له خپلو حیواناتو سره زیات اشنا شي او طبیعت کې یې په ارزښت پوه شي.

د یادي موضوع لپاره مو د یاد ژوبڼ له رئیس عزیزګل ثاقب سره خبرې کړې دي هغه وایي، چې اوس مهال دې ژوبڼ کې ۱۰۰ ډوله ژوي کبان، مرغان، خزندې او حیوانات لرو، چې نږدې ۶سوه ته یې شمېر رسېږي. هغه د داخلي او بهرني حیواناتو په اړه و ویل: اصولاً ژوبڼونه د بنیاد پر اساس اکثراً ۷مخ

# دافغانستان او ترکمنستان د صنعت او سوداګرۍ برخه کې اړیکې پراختیامومي

د هېواد د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي او مل پلاوي، د ترکمنستان جمهوریت د سوداګرو او صنعتکارانو اتحادیې له رئیس نوکر قلي آتاقي اوف سره وکتل.
د صنعت او سوداګرۍ وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې نوکر قلي آتاقي اوف، ترکمنستان ته د افغانستان اسلامي امارت د دولتي او خصوصي سکتور د ګډ پلاوي د سفر هرکلی کړی او د ترکمن - افغان سوداګریز پیوستون کنفرانس او نندارتون پرانیستل یې د دواړو هېوادونو د نږدېوالي لامل ۷مخ



## د پنجشیر ولایت د تېر نظام کارکوونکي خپلو کورونو ته راستانه شوي

د پنجشیر سیمه ییز مسوولین وایي، چې د تېرحکومت سلګونه ملکي او پوځي کارکوونکي چې ټول د پنجشیر اوسېدونکي دي دغه ولایت ته راستانه شوي دي.د پنجشیر والي الحاج محمد آغا حکیم د باخترآژانس خبریال ۷مخ

## فراهم آوری تسهیلات برای تجار در بندر چابهار

هیئت تخنیکی امارت اسلامی افغانستان تحت سرپرستی محمدالله بختیار، رئیس ترانزیت بین‌الملل وزارت صنعت و تجارت که به چابهار ایران رفته است با عبدالملکی، مشاور رئیس جمهور آنکشور و دبیر شورای عالی مناطق آزاد تجارتی - صنعتی و اقتصادی جمهوری اسلامی ایران ملاقات کردند.دفترمطبوعاتی وزارت صنعت و تجارت با نشر این خبر نگاشته است: دراین ملاقات هیئت تخنیکی دوطرف در رابطه به عملي‌سازی و تکمیل نمودن زنجیره ترانزیتی از چابهار، ایجاد نمایندگی امارت اسلامی درمنطقه آزاد و تسهیلات دراین مسیر، واګذاري، قیمت و میعاد ص۷


ملګري ملتونه د خپل باور بایللو په درشل کې ۴ مخ

نبرد غزه در هوای سرد و گرسنگی شدید، کشتار جمعی بدون سلاح ! صفحه ۳

افغان اعلانات ۶مخ


## سرمقاله
# یوازې عدالت د نظام بقاء تضمینولی شي!

موږ ته لازمه ده چې خپل ځان وپېژنو، د خپل وخت زماني او مکاني واقعیتونه درک کړو او د راپېښو ستونزو پر حل ښه غور او کره څېړنه وکړو.دا چې تر ډېره بریده خو اکثره افغانانو سره دا فکر او اندېښنه شته، چې په څه ډول به یې هېواد کې امنیت او ټیکاو تلپاتې، نظام مستحکم، هېواد خپلواک، بسیا او خوندي پاتې شي، نو ځکه ضروري ده چې تر هر څه ړومبی خپل ځان او خپله وړتیا او نیمګړتیا هم وپېژندل شي. که په دې هکله غور وشي او د نیمګړتیاوو په رغولو کې پر هڅه هاند لاس پورې شي، نو هېڅ شک نشته چې غوره نتایج تر لاسه کولی شو. البته؛ د ملتونو عروج او زوال زیاتره د هغوی په عمومي پوهې، هوښیارۍ، ثقافت او وطن دوستۍ پورې تړلي چې طبعاً رعیت او حکومت دواړه په کې راځي، خو څرنګه چې د وروسته پاتې ملتونو واکمن عموماً زورواکي او جابران وي، بناءً د مسؤلیت زیاتره برخه هم د دوی پر غاړه ور پرېوځي. ځکه همدوی د هېواد پر شتمنیو او وسایلو واکمن وي،نو که چېرې حاکمان یاد وسایل او امکانات په ښه توګه د خلکو د سوکالۍ په موخه وکاروي، عدالت خپله تګلاره وګرځوي او له ځان پالنې، درغلۍ او ظلمه ځان وساتي، یقیناً چې هم به د څښتن تعالی مرسته او توفیق ورسره وي، هم به رعیت خوښ او هم به هېواد کې نظام مستحکم۷مخ

## یک مقدار مواد منفجره در ننگرهار کشف و ضبط شد

موظفین گمرگ ننگرهار، سه محموله تجارتی را که درآن پنج هزار و ۸۸ کیلوگرام مواد منفجره کیمیاوی (امونیم نایتریت) جاسازی شده بود، ضبط کردند.به گزارش آژانس باختر؛ این مواد متعلق به یک شرکت تجارتی بوده و شامل ۲۱۲ بسته مواد منفجره کیمیاوی (امونیم نایتریت) است که وزن مجموع آن به پنجهزار و ۸۸ کیلوگرام می رسد که با مهارت خاص در میان اموال پرچون۷مخ

## مارجه کې د امارتي ځمکو د غصب مخنیوی شوی

د هلمند دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې ددې ولایت د مارجې په ولسوالۍ کې د نویو خپلسرو تصرفاتو د مخنیوي په ترڅ کې د امارتي ځمکو د غصب مخه نیول شوې ده.د هلمند دکرنې ریاست چارواکي وایي، چې د دې ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې یو شمېر خلک غوښتل، چې غیر متصرفه ملکیتونه غصب او کورونه پرې جوړ او نیالګي په کې کېږدي، چې پر وخت یې د کرنې او امنیتي مسؤلینو لخوا مخه ونیول شوه.د یادولو وړ ده، چې تر دې وړاندې هم په یاده ولسوالۍ کې د سلګونه جریبه امارتي ځمکې د غصب مخنیوی شوی دی.


## ننګرهار کې د ځنګلونو د پراختیا په پار هڅې

د ننګرهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست له لوري د بهسودو ولسوالۍ سهاک اوبحرا باد کانال ټپو او غونډیو کې د نیالګیو ایښودل پیل شوي دي. د ننګرهار د کرنې ریاست د طبیعي زېرمو امر قاري سیداغا تنها وویل: «د بهسودو ولسوالۍ سهاک سیمه کې د افغانستان راتلونکي نسلونو مؤسسې په همکارۍ په ۴ زره جریبه ځمکه کینډل شویو تراسونو کې ۸ زره د ناجو، صبر غوراسکۍ، بېره ،ګلبید، پلوڅه، ویلکمر او نارنجو نیالګیو ایښودلو چارې پیل شوي دي.» ۷مخ

## باشنده ی کاپیسا، زمین شخصی اش را برای ساخت یک مکتب اهدا کرد

یک باشنده معارف دوست کاپیسا، ٦۰۰ متر مربع زمین شخصی اش را به خاطر ساخت یک مکتب ابتدایی به ریاست معارف آن ولایت اهدا کرد. به گزارش آژانس باختر؛ مسوولان ریاست معارف کاپیسا، ارزش زمین یاد شده را سه صد هزار افغانی تخمین زده اند و از عبدالبصیر باشنده کاپیسا به خاطر اهدای ملکیت شخصی اش به ریاست معارف این ولایت قدردانی کردند. رییس معارف کاپیسا گفت: این هموطن ما زمین خودرا غرض اعمار مکتب ابتدایی نسوان قلعه ص۷

## واورو کې بند لسګونه هېوادوال ژغورل شوي



دفاعي او امنیتي ځواکونو د وروستیو ورښتونو له امله د هېواد په ګوټ ګوټ کې په واورو کې بند پاتې لسګونه هېوادوال ژغورلي دي. د ملي دفاع وزارت پر خپله ایکس پاڼه لیکلي، چې د ۲۰۵ البدر قول اردو ځواکونو لسګونه کسان د کندهار په دامان ولسوالۍ په سېلابونو کې له ډوبېدو ۷مخ

# جهادي خاطرې

## د شهامت مجلې مسؤل ( ملا امیرخان متقي )

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

۱۳۹۱هجري شمسي کال

دنظامـــي جګړې په څېرد تبلیغاتي جګړې ډګر هـــم خورا تود و، زه دفراه ولایت لپاره دفرهنګي کمېسیون نماینده ( دمطبوعاتو ولایتي مســؤل وم) څلور پنځه تلیفونونه به مې په جیب کې ســره ګرځول، دګرېوان تڼـــۍ مې دیتیم دګرېوان په شان دتلیفونانو د وزن اوحجم لامله پرانیستي پاتې وي.

هره ورځ به مو زرګونه خبریزپیغامونه ، دافغان بیســم، اتصالات ، روښـــن او اریبا شبکو له لارې مختلفو خلکو ته لېږل، چې په کې دکابل اداري له والیانو، پارلمان له غړو اونورو لوړرتبه چارواکو واخله بیا تر عامو مجاهدینو ،محصلینو اونور بېلابېل خلک په کې شامل و.

دې پیغامونو په دښــمن خورا ستر اغېزشـــیندلی و حتا یووخت زموږ د ولایت داســـتخباراتو معاون زموږیو نږدې خپلوان ته پـــه ننواتو تماس نیولی وترڅو زه ورته خبرې پیغامونه ونه لېږم.

داســـې مې هم واورېدل چې پریـــوه پیغام چې دیوعادي کـــس په تلیفون کې موندل شوی و دمحکمې له خوا ۵ کاله قید ورکړل شوو.

راځم اصل مقصد ته ، یوه ورځ پیاوړي لیکوال ښاغلي قاري عبدالستار سعید چې دعبدالرؤف حکمت، قاری حبیب مجاهد اونورو مســـتعارو نومونو به یې لیکنې کولې راته زنګ وواهه چې راشه کوم ملګري کاردرسره لري.

زه هـــم پرهغه ټاکلي وخت ورغلم پریوه خالـــي میدان مو څادرونه وغوړول او کښېناستو دقاري صاحب ســـره دویم ملګری دغټو سترګو لرونکی دنګ ځوان چې سپینه خولۍ یې په سر وه، ورســـره و دجوړ پخیر نه وروسته قاري صاحب زما خواته په اشاره وویل:

دامهاجر صاحب دی دفراه نماینده ماته یې کړه چې د اکس خو دې وپېژانده ؟ دا د شهات مجلې مسؤل مدیردی.

ما چې په لومړي ســـرکې دا کس پېژندلی و چې دفرهنګي کمېسیون مسؤل ملا امیرخان متقي صاحب دی یوازې مې دهو ځواب دسرپه خوځولو ورکړ.

وروســـته متقي صاحب راته دمطبوعاتو داهمیت پـــه اړه ډېرې ګټورې خبرې وکړې اورانه ویې غوښـــتل،چې دننه په ولایت کې کوښـــښ وکړو چې فرهنګي اودقلم لرونکي ګســـان را پیدا کړو، اړیکې ورسره جوړې کړو او داستعدادونو نه یې ګټه پورته کړو.

همداشـــان یې د کره خبرونو د راټولو په پار راته مهمې سپارښتنې وکړې چې ما هم له خپل اړه ورته اطمینان ورکړ.

باید ووایو چـــې ترټولو لومړی اوپه پراخه کچه د خبري مســـجونو دلېږد بهیر دهېواد بېلابېلو ولایتونو ته زموږ په ابتکار اوهڅو باندې روان شـــو چې وروسته بیا تر یوه حده دنورو ولایتونو مسؤلینو هم دا لاره تعقیب کړه.

# ملګري ملتونه د خپل باور بایللو په درشل کې

**ثناء الله عمران**



په روانه یوویشـــتمه پېړۍ کې د نړۍ له ټولو لوی ســـازمان مخ پر ځوړ روان دی، د نړۍ د بنسټیزو موضوعاتو په حل کې له بن بســـت سره مخ دی او تـــر ډېره بریده د امنیت شـــورا د پینځو دایمي غړو د لاس په الې اوښتی دی.

زیات شـــمېر هېوادونه له څو لسیزو راهیسې په بېلابېلو بڼو د م.م په منشور او د تصمیم نیونې په جوړښـــت کې د بدلون او اصلاح غوښتنه کوي؛ چې ځینې غوښـــتنې او وړاندېزونه یې په امنیت شـــورا کې د ویټـــو امتیاز او د هغـــه تعمیم نورو هېوادونـــو ته اړوند وه، خو دغـــو وړاندېزونو تر اوسه کومه د پام وړ پایله نه ده درلودلې.

د م.م د نه اغېزمنتوب او ناکامۍ لوی لامل د ویټو امتیاز ته ورګرځي چې د یاد ســـازمان د منشـــور پـــه ۲۷ مه ماده کې پـــه غیر مســـتقیم ډول ترې یادونه شوې او د م.م سازمان د فعالیت راهیسې ورځخـــه په وار ـ وار ګټنه شـــوې. د ســـازمان د رامنځته کېدو په لومړیو کې د پخواني شـــوروي اتحاد له لوري د ویټو له امتیازه ډېره ګټنه وشوه، د هغه تر ړنګېدو وروســـته د یاد امتیاز څخه ډېره اســـتفاده د امریکا متحده ایالاتو له لوري شوې او جالبـــه دا ده چـــې د صهیونېـــزم جعلي رژیم د محکومیت پـــه اړه تر ۴۵ ډېر پرېکـــړه لیکونه یـــوازې د امریکا لـــه لوري ویټو شـــوي دي.نن ورځ د نـــړۍ پـــه بېلا بېلـــو ډګرونو کـــې پېچلي موضوعات رامنځته کېږي لکه په فلســـطین کې نســـل وژنه چې تر دې دمه تـــر ۲۸۰۰۰ زیات یې ماشومان او ښـــځې د صهیونیستي وحشتونو قرباني شوي؛ د اوکراین، سوریې،لیبیا بحرانونه، د یـــورو اتلانتیک په محور کـــې اختلافات او...

خو په دې برخه کې د م.م د سازمان بنسټیزه دنده او مســـئولیت چې د بین المللي ســـولې او ثبات رامنځته کول دي، په نشت حسابېږي.

د م.م ســـازمان په ځانګړي ډول امنیت شورا یې د لویو قدرتونو(پنځو دایمـــي غړو) د نړۍ په لړ او بر کې د هغـــوی د ګټو د خوندي کولو د چنو وهلو په مرکز اوښتی او حتی په نړۍ کې د ډېرو پخوانیو او اوســـنیو بحرانونو تر شا همدغه د یوه لاس د ګوتو په شـــمار خونخواره دولتونو لاس لري. اوس ســـوال دا دی چې ولـــې م.م د خپل بنسټیز ماموریت او آرمان څخه واټن نیولی او تر ډېره یې ځان د نا سرنوشـــت سازه او یا هم د بې ځایه شویو وګړو مســـائلو ته په رسېدنه او بیانیو په خپرولو بوخت کړی؟

د م.م عمومـــي سرمنشي آنتونیـــو ګوتریش د یاد ســـازمان د ۲۰۲۴ ز کال د لومړیتوبونو وړاندې کولو پـــر مهال ویـــلي و،چې موږ نور د ســـاړه جنګ او تر هغه وروســـته بیـــن المللي نظمونو ـ دوه قطبېتوب او یـــو قطبیتوب مهال ـ کې نه یو. د هغه په خـــبره نننۍ څو قطبي نـــړۍ د پراخو، تثبیت شـــویو او اغېزناکـــو مکانېزمونو څخه بې برخه او انارشـــېزم ته د ور داخلېدو په درشل کې ده، پایلـــې یـــې وینو چې ډېـــرې خطرناکې او د وړاند وینې وړ نه دي.

جالبـــه دا ده چـــې د ملګـــرو ملتونـــو سرمنشي کلتـــوري جګړې ته په اشـــاره سره وایي چې نن ســـبا په نړۍ کې کرکه؛ خشـــم او ځوږ ډېر دی، هره ورځ په لږ بهانه سره جګړې او وحشـــتناکې شـــخړې رامنځته کېږي چې پـــه پایله کې په بې ســـاري کچه د ملکي وګړو د وژنې او معلولیت لامـــل کېږي. له بلې خوا بیا هغه د ملګرو ملتونو په تر ټولـــو مهم تصمیم نیوونکـــي څانګه کې د پراخو اختلافاتو د شتون خبره کوي او وایي چې په امنیت شـــورا کې بې مخینې اختلافونه جدي شخړو ته ځواب وینه ناممکنه کوي.

په واقعیت کې د ګټو پـــر سر اختلافات او چنې بازۍ د دې لامل کېږي چې امنیت شورا په نړۍ کـــې ورځ تر بلـــې ډېرېدونکـــو ټاوتریخوالي پر وړاندې لازم غبرګون ونه شي ښـــودلی او حتی د ځینـــو بیـــن المللي جدي مســـائلو د لا پېچلي کېـــدو او رامنځته کېـــدو لامل کېـــږي. تر ډېره بریده همدغـــه د امنیت شـــورا دایمي غړي دي چې د بین المللي اصولو تر پښـــو لاندې کولو ته لار هواروي یا عمـــلاً دوی په‌خپله د دغه نقض مرتکب کېږي.

د ګوتـــرش په باور امنیت شـــورا چې د نړیوالې ســـولې بنســـتیز لامـــل دي، د جیوپولیټـــکل اختلافونو له امله د بن بســـت سره مخ شـــوې؛ که څه هم دا لومړی ځل نه دی چې شـــورا سره وېشل کېږي، دا د خپل ډول تر ټولو بده پېښه ده او اوســـنۍ ګډوډي تر بل هر وخت ډېره ژوره او خطرناکه ده.

دا هر چاته ښکاره ده چې م.م نه یوازې په فلسطین کې د نســـل وژنې او ورانۍ پـــه مخنیوي کې په بشـــپړه توګه پاتې راغلي، بلکې په افغانستان کې د اشـــغالګرو او د هغوی د ګوډاګیانو له لوري د ملکي وګړو د کورونو، مسجدونو، روغتونونو د بمبـــار او چاپو په مخنیوي کـــې هم ناکامه وه او حتی تر ډېره بریده به یې د وحشـــت خوا نیوله.

لنډه دا چې م.م له تاریخي اړخه داســـې نقش نه دی لوبولـــی چې زموږ پېچلي مســـایل دې پرې حل شـــوي وي، بلکې تر ډېره په افغانستان کې د لویـــو قدرتونو په تېره بیـــا د امریکا له لوري په وسلیوي بڼه د افغان کشالې د اوږدېدو او پېچلې کېدو لامل شـــوي؛ چې ښـــه بېلګه یې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د روان کال د فبرورۍ ناکامه غونـــډه وه. په یاده غونـــډه کې د م.م د سرپوښ څخـــه په ګټنه ډله ییز غرب هڅـــه کوله پر افغان حکومت د بین المللي فشـــار اجـــماع رامنځ ته کړي چې ونه‌شوه.

د ګوتریش د وینا پر بنســـټ له غزې تر اوکراینه، له ســـوډان څخه د مرکزي افریقـــا تر جمهوریته، لـــه یمن څخه تـــر میانمار پـــورې م.م د نړیوالو بشردوســـتانه اړتیاوو په برخه کې په بې ســـاري توګه د بودجې له کمښت سره مخ دي.

واقعیت دا دی چې د نړۍ‌له ټولو لوی ســـازمان د ګڼو ننګونو سره لاس او ګریوان دی، اوســـنۍ مـــشر یې حـــل د عمومي اســـامبلې د راتلونکې غونډې په حاشـــیه کې چـــې د راتلونکې نړۍ د څو اړخیـــز والي په موخه جوړېـــږي؛ په امنیت شـــورا او بریټن ووډز مالي بنســـټون کې بنسټیز اصلاحات راوستل بولي.

په ټولیـــز ډول د غزې د وروســـتیو جنګونو او د صهیونیستي رژیم له‌خوا د زرګونو بې ګناه ښځو او ماشـــومانو قتل عام، اوکراین کې د جګړې په اړه چې په سلګونو زره کسان په کې مړه او ټپیان شوي ، د سور ســـمندر بحران او د نړۍ په نورو برخو کې کړکېچونه څخـــه دا څرګندېږي چې د م.م سازمان اوسني جوړښـــت خپل اغېزناکتوب او اعتبار لاسه ورکړی دی.

# قضاوت خپله وکړئ

**منیر فاروقي**

کفارو چې کوم څه غوښـــتل او کوم هدف یې ځـــان ته ټاکلـــی و ، هغو اهدافـــو ته ورځ تر بلې په رســـېدو دي او همدارنګـــه یې ډېری اهداف ترلاســـه کړي هم دي. کفار شـــپه او ورځ لګیا دي، تر څو مســـلمانان خوار، ذلیل او ټولـــې نړۍ ته پـــه ډېره بده څېـــره معرفي کـــړي. همدارنګه غواړي، چې د اســـلامي امت د ځوان نســـل ضمیر او وجدان داســـې مړ او بې احساســـه کړي، چې د امت پیغلې یې بې عزته ، ښـــځې، بوډاګان او ماشـــومان یې شـــهیدان، خـــو دوی کې هېـــڅ د انتقام سوچ او فکر پیدا نه شـــي، چې په خپل دغه پلان کې کامیابه شـــوي هـــم دي. هره ورځ مو په سلګونو مســـلمانان شهیدانېږي، خو د مســـلمه امت د ځوانانو ضمیرونه ویده دي.

کفـــار تل د ښـــځو حقوق او د ماشـــومانو د خوندیتـــوب په اړه کاذب شـــعارونه ورکوي او وایي، چې په افغانســـتان کې د اســـلامي امارت تـــر ولکې لاندې افغـــان مېرمنو ته د تعلیـــم او کار حق نه ورکـــول کېږي او د بې وزلو ماشـــومانو ژوند د مرګ له ګواښ ســـره مـــخ دی، چې په همدې خبـــرو یې زموږ بې علمـــه او ناپوهه عـــوام غلط شـــوي او یقین کوي، چې په رښـــتیا هم کفـــار زموږ له غمه مړه دي. دوی هم د ښـــځو حقـــوق مخکې، مخکـــې کوي او همدا خبره زمزمه کوي چې د ښځو حقوق تر پښو لاندې شوي.

**اې د مســـلمه امت ځوانانـــو! د الله تعالی خاطر وکړئ او له هغه اوره وډار شـــئ، چې څخلې به یې انســـانان او تیږې وي. الله جل جلاله په اســـلام ســـره عزتمن کړي یوو، که مو له اسلام پرته بله لاره وټاکله؛ نو ذلیل او خوار به شـــو. د دې معصومو مېرمنو او ماشـــومانو مظلومیت ته وګـــورئ! که نور څه مو په وس پوره نه وي؛ دا وس خو مو شـــته، چـــې د یهودو، د هغوی ملګرو، تولیداتو، ستایلونو، لباسونو او نورو شـــیانو څخه ځانونه وساتئ. لږ د غفلت له خوبه رابیدار شـــئ. په خپلو ځانو کې د انتقام جذبه پیدا کړئ. په دې خو یې والله که شل کړئ، چې په فیســـبوک او واټساپ کې په سټوریو د خپګان ســـټېکرې ولګوئ او ځانته په غوره شئ، چې توره مې وکړه.**

په همدې هکله یوه کیســـه رایاده شـــوه، چې یـــوه ورځ لیوان راټول شـــول او د شـــپونکي د رمـــې خواته ورغلـــل او دا نـــارې یې پیل کړې، چې موږ ګډو او وزو ته ازادي غواړو، شـــپونکی د دوی په حق کې ظلم کوي، ولې یې ګډې او وزې بندیانې کړې دي؟ ولې یې ازادي نه پرېـــږدي؟ د دغو اوازونو په اورېدو ســـره ګډو او وزو هم نارې کـــړې، چې موږ ازادي غواړو، نور د شـــپونکي غلامي او دغه ذلیله زندګي نه غواړو. شـــپونکي چې څومره ورته وویل، دا لېوان ستاســـو دښمنان دي، په دې طریقه مـــو خوري، د دوی خبره مه منئ! خو ګډو او وزو دغه خبره ونه منله او په خپلو ښـــکرونو یې د شـــپونکي ځای ړنګ او ټولې وتښـــتېدې او د غرو په لمنو کې خورې ورې شـــوې. لېوان چې په خپل پلان کې کامیاب شول؛ نو دا وخت یې سره زر وګانه ، په ګډو او وزو یې بې رحمه حملـــه وکړه، ټولې یې له منځه یـــوورې). کفار چې کومې نارې د ښـــځو د حقوقو وهي، یوازینی مطلب یې د باعزتـــه مېرمنو؛ بې عزته کـــول دي. همدا په افغانســـتان کې د ښـــځو حق غوښتونکي کفـــار، د فلســـطین په ښـــځو او ماشـــومانو داســـې بې درېغه او ناترسه بمباري کوي، ته به وایې، چې دا له ســـره نه انسانان دي او نه کوم هم حقوق لري.

د دې ځنـــاورو پـــه نزد یوازې د افغانســـتان ښـــځې حـــق او حقـــوق لري؛ امـــا د غزې مظلومـــې، ویرجنـــې، پـــه وینـــو لړلـــې او غمځپلـــې مېرمنـــې، چـــې ماشـــومان یې د ســـترګو په وړاندې له لوږې مري، هره ورځ د بمونو په لمبو کـــې لولپه کېږي، هېڅ خبره نه ده. ځکه هغوی خـــو هېڅ حق او حقوق نه لري، خـــو اصلي ســـتونزه کفارو کې نه؛ په مـــوږ کې دی. نه مو خپل ځـــان پېژندلی او نـــه هم خپـــل مسؤلیت، ځکه داســـې خـــوار او ذلیل یوو.کله چې ســـلطان صلاح الدیـــن ایوبي بیـــت المقـــدس فتحه کړ؛ نو په یـــوه تاریخي وینا کې یې داســـې وویل: که چېرې په مســـلمانانو کې یـــو ایماندار مشـــر هم ژوندی وي؛ نو یهـــود او نصارا به هېڅکلـــه د بیت المقدس د نیولو جرئت ونه کړي.

خـــو افســـوس! چـــې اوس د میلیاردونـــو مســـلمانانو په شـــتون کې بیـــت المقدس د صهیونیســـتي یهودو په ولکه کې دی.

ای کاش! چې نن ورځ مـــو د صلاح الدین ایوبـــي غونـــدې یـــو ځـــوان په عربـــو کې درلودی.

اې د مســـلمه امـــت ځوانانو! د اللـــه تعالی خاطـــر وکړئ او لـــه هغه اوره وډار شـــئ، چـــې څځلې بـــه یې انســـانان او تیږې وي. الله جل جلاله په اســـلام سره عزتمن کړي یوو، که مو له اســـلام پرته بله لاره وټاکله؛ نـــو ذلیل او خـــوار به شـــو. د دې معصومو مېرمنـــو او ماشـــومانو مظلومیت ته وګورئ! کـــه نور څه مو پـــه وس پوره نه وي؛ دا وس خو مو شته، چې د یهودو، د هغوی ملګرو، تولیداتو، ســـټایلونو، لباسونو او نورو شیانو څخه ځانونه وســـاتئ. لـــږ د غفلت له خوبه رابیدار شـــئ. په خپلـــو ځانو کـــې د انتقام جذبـــه پیدا کـــړئ. په دې خو یـــې والله که شل کړئ، چې په فیســـبوک او واټساپ کې په ســـټوریو د خپګان ســـټېکرې ولګوئ او ځانته په غوره شـــئ، چې توره مې وکړه.

کفار دې لګیا وي، د مســـلمه امت ښـــځې، ماشومان، سپینږیري او ځوانان شهیدانوي، خو مســـلمان ځوان دې پـــه لهولعب کارونو او عیاشـــیو کې لګیا وي او په خپلو سوچونو کـــې دې د لنـــدن او امریکـــې جینکـــۍ او پارکونه ګرځوي.

# د فلسطینیانو د ټول وژنې تر شا د چا لاس دی !؟

وحیدالله – هڅاند



د تېرې اوونۍ په پای کې صهیونیستانو په غزه کې د بشري مرستو لپاره پر را ټولو شویو خلکو ډزې کړې او سلګونو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده، چې یاد برید د ملګرو ملتونو په ګډون د نړۍ د زیات شمېر هېوادونو له لوري غندل شوی ، دا په داسې حال کې ده، چې د تېرې ۵ شنبې په ورځ د بشري مرستو په کاروان را ټولو شویو عامو خلکو د بریدونو له امله ۱۱۷ کسان شهیدان او ۷۶۰ نور ټپيان شول.

د ملګرو متلونو سرمنشي انتونیو ګوتېرېش یاد برید غندلی او وایي « ناهیلي شوي ملکي خلک» بېړنې لاس نیوي ته اړتیا لري.بل خوا د فرانسې ولسمشر امانوېل مکرون ویلي، « د اسرائیلي ځواکونو» له خوا ملکي خلک په نښه شوي دي. له فرانسوي ولسمشر وروسته د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو مشر جوزیپ بوریل یاده پېښه « په بشپړه توګه د نه منلو وړ پېښه بللې ده.»

د ملګرو ملتونو سرمنشي په خپله اېکس پاڼه لیکلي: « زه په غزه کې د پنج شنبې ورځې پېښه په کلکه غندم چې د راپورونو له مخې تر سلو ډېر کسان د ژوند ژغورنې مرستې په لټه کې وژل شوي یا ټپیان شوي دي.»نوموړی وایي په غزه کې ناهیلي خلک بېړنیو مرستو ته اړتیا لري او ملګري ملتونه په یوه اوونۍ کې نه شي کولای چې په کم وخت ټولو ته مرستې ورسوي. دغه راز یې د بېړنې بشري اوربند او له شرط پرته د برمته کسانو د خوشې کېدو غوښتنه کړې،جرمني او ایټالیا هم د دې پېښې د خپلواکې پلټنې غوښتنه کړې ده.

په همدې حال کې امریکا ویلي، چې دوی د مالوماتو په ارزولو بوخت دي، ترڅو مالومه کړي، چې دا پېښه څنګه رامنځته شوې، خو د امریکا له لوري د یاد برید ارزول د خلکو په سترګو کې خاورې اچول دي، ځکه د غزې جګړې تر شا خپله د امریکا لاس دی او غواړي د اسرائیلو له لوري د غزې وګړي په قصدي ډول په نښه او فلسطینیان له منځه یوسي.د مالوماتو له مخې، د اکتوبر له اوومې راهیسې غزه کې د صهیونیست رژیم د تېریو د قربانیانو شمېر کې ۳۰۰۳۳ کسان شهیدان او ۷۰۳۲۵ نور ټپیان شوي، چې زیاته برخه یې ښځې او ماشومان دي. دغه راز د اسرائیلو د ظلمونو له امله ۱،۸ میلیونه فلسطینیان له خپلو مېنو بېځایه شوي، چې اوس مهال په سختو شرایطو کې ژوند کوي!

په هر حال که چېرې د بشري حقوقو د نړیوالو تنظیمونو د تېرو دوو لسیزو کلني رپوټونه وګورو،نو د امریکا اصلي څېره به له بل هروخته نړیوالو ته څرګنده شي چې څومره بشري حقونو ته ژمنه پاتې شوې؟ امریکا او ځینې نور هېوادونه په داسې حال کې د بشري حقونو د ساتلو سپارښتنې کوي، چې دوی خپله بشري حقونه نقض کړي او د نقض کوونکو ملاتړ کوي، همدا اوس د غزې حالت ټوله نړۍ په خپلو سترګوویني او ګوري، چې په نړیواله کچه د انسان وژنې او بشري حقونو د نقض په برخه کې څومره مخکښه ده. نه بلکه یې د اسرائیلو له لارې پر فلسطینیانو ظالمانه او وحشیانه چلن دی، د امریکا له لاسه د غزې خلکو کورونه، مسجدونه، روغتونونه او ښوونځي خوندي نه دي او درګرده د اسرائیلي پوځیانو له لوري پرې بمباری کېږي، چې په پایله کې یې د فلسطینیانو ټولوژنه زیاتېږي، آیا فلسطیني وګړي د ژوند کولو حق نه لري؟ چېرته دی د بشري حقونو نړیوال سازمان، چې د امریکا پر ضد په حقیقي توګه غږ پورته کړي او د اسرائیلي بریدونو مخه ونیسي، د ملګرو ملتونو سازمان یاده ټولوژنه ولې تش په نامه غندنو او اعلامیو تېروي، د دې پر ځای باید په مستقیمه توګه لاس په کار شي او د هغو ظالمانو مخنیوی وکړي، چې په ښکاره توګه بشري حقونه تر پښو لاندې کوي/ کړي، خو له بده مرغه ملګري ملتونه په فلسطین کې د نسل وژنې او ورانۍ په مخنیوي کې په بشپړه توګه پاتې راغلي، نو دوی خواران مجبور دي، چې د خلکو د درد تسکین لپاره هسې خوشې غندنو او اعلامیو ته زور ورکړي، خو د فلسطینیانو درد په غندنو نه رغېږي او نه به د غزې روانې جګړې پای ومومي.د ښښنې نړیوال سازمان، د بشري حقونو څار او له ملګرو ملتونو سره تړلو نورو ډلو وخت ناوخته په خپلو راپورونو کې ویلي چې اسرائیل له فلسطینیانو سره اپارتایډ کوي او د هغوی اساسي بشري حقونه یې تروړلي دي. د بشري حقونو ډلو په خپلو راپورونو کې په تفصیلي توګه پر دې خبرې کړې چې څرنګه وخت پر وخت په لسګونو زره خلک د اسرائیلو د حکومت له لوري له خپلو کورونو او سیمو کډوال او شړل کېږي، تر څو د هغوی په سیمو کې اسرائیلي وګړو ته مېشتځایونه جوړ کړي. همدا راز، د فلسطیني وګړو نور اساسي بشري حقونه هم نه ورکول کېږي او په سیستماټیکه توګه هڅه داده،چې هغوی د اسرائیلي وګړو په پرتله د ژوند په هره برخه کې ټیټ ژوند ولري، چې د دې ټولو ناخوالو تر شا د امریکا لاس دی!د غزې روان وضعیت ته په کتو دغه خبره ثابتېږي چې اسرائیل حماس له منځه نه شي وړلای او د فلسطینیانو په شهیدانولو هم جګړه نه شي ګټلای، نو د صهیونیستانو او حماس غورځنګ تر منځ به اوږدمهاله جګړه د دې سبب شي،چې اکثره یهودي اسراییلیان به ډېر ژر دغه خاوره پرېږدي او نورو هېوادونو ته به کډه شي.که په غزه کې همداسې نسل وژنه دوام ومومي، د اور لمبې به یې تر امریکا او نورې نړۍ هم ورسېږي، ځکه د نړیوالو قوانینو له مخې فلسطینیان حق لري،چې د وسله والې مبارزې په شمول د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره له هرې ممکنې لارې کار واخلي ، ځان، کهول او کورنۍ د ظالمانه بریدونو او تړاکونو نه د تل لپاره خلاص کړي.

# نبرد غزه در هوای سرد و گرسنگی شدید کشتار جمعی بدون سلاح !

منبع: الجزیزه انگلیسی – ترجمه و تخلیص: احمد ضیا سروری قسمت اول

اسراء کمال الجملان هنگامی که در اواخر اکتوبر گذشته به همرای پسرش محمد (۵ ساله) از محله شیخ رضوان در شمال غزه به سمت جنوب فرار نمود، وی در جریان بمباردمان اسرائیلی ها، هشت ماهه باردار بود او با فرزند ۵ ساله خود سه کیلومتر را از خانه اش الی شفاخانه الشفاء پیاده طی نمودند. اسراء مانند دیگران که در این شفاخانه پناه گرفته اند، فقط چند پیراهن و وسایل سبک را با خود برده است، چون انتظار داشت به زودی به خانه اش بر می گردد.با گذشت دو ماه از آواره‌گی، این زن ۲۸ ساله و خانواده اش همچنان در یکی از صدها خیمه‌ای که در وسط نوار غزه برپا شده بود، بدون هیچ وسیله ای که بتواند از او و نوزادش در برابر سختی ها محافظت کند، ساکن هستند.اسراء در حالی که طفل نوزاد رنگ پریده خود را در آغوش گرفته بود، گفت: «وقتی او را به دنیا آوردم، هنوز باران اینجا نباریده بود. من و شوهرم سعی می کردیم پس از نشست آب از شکاف های خیمه به دنبال پناهگاه دیگر بخاطر فرار از باران باشیم. وی می افزاید، ما روزهای سختی را سپری نمودیم که مانند آن را قبلاً اصلا ندیده بودیم.این زوج با یک جنراتور کوچک داخل خیمه را گرم میکنند، جایی که آنها را مجبور کرد در شرایط سخت در آنجا پناه ببرند. از سوی دیگر او نمی تواند فرزند نوزاد خود را در نزدیکی آتشی که آوارگان در کنار خیمه برای گرما روشن می کنند، ببرد، زیرا دود سیستم تنفسی نوزاد اش را آسیب میزند.اسراء درباره روزی که برای اولین بار نوزاد اش را به دنیا آورد، می گوید: آن روز همچنان سرفه می کرد تا رنگش آبی شد. ما می ترسیدیم که ممکن بمیرد. او با صدای لرزان اضافه کرد، من نگران دخترم هستم او هنوز واکسین هایش را نگرفته است.فصل زمستان در غزه معمولاً از دیسمبر تا ماه مارچ ادامه دارد و با هوای پائین به طور متوسط به ۸ درجه میرسد. باران های شدید و رعد و برق باعث مشکلات جدی برای کسانی می شود که بدون پناهگاه بوده و مجبور به ماندن در خیمه‌های موقت بدون سقف برای محافظت از خود و خانواده هایشان هستند.در اواسط ماه دیسمبر، چیزی که انتظار می رفت، اتفاق افتاد، زیرا باران های شدید همراه با وزش باد شدید، خیمه های فرسوده را جمع کرد و لباس ها و پتوهای آوارگانی را که در زیر آنها پناه گرفته بودند، غرق نمود. زمانی که اسرائیل جنگ خود را پس از حمله «سیل الاقصی» در اکتوبر گذشته آغاز کرد، هوا در آن زمان هنوز برای کسانی که مجبور به ترک خانه های خود در شمال غزه و در حالی که لباس‌های تابستانی و سبک به تن داشتند، گرم و قابل تحمل بود، اما با ممانعت نظامیان اسرائیل از بازگشت آنها به خانه هایشان مواجه شدند تخریب بیش از ٦٠ درصد واحدهای مسکونی غزه و کمبود مساعدت های بشردوستانه به این نوار، وضعیت این آوارگان را به سرعت به سوی یک فاجعه غیر قابل کنترول سوق داد. آمار های نماینده گی کمک و کار سازمان ملل متحد برای آوارگان فلسطینی (UNRWA) در اواسط فبروری تایید کرد که ۷۰ درصد از زیرساخت های غیرنظامی در باریکه غزه ویران شده است. بنابراین هیچ راهی برای تهیه لباس گرم برای محافظت در برابر سرما وجود ندارد.سلیم الجملان (۲۸ ساله)، شوهر اسراء، می گوید که سرما مانع از حرکت آنها می شود. وی توضیح داد، همانطوری که می دانید من نتوانستم لباسی با خود بیاورم، حتی مدارک شخصی مان را نتوانستم با خود حمل کنیم، حالا بارش باران های شدید ما را سخت آشفته کرده است.اسراء در مورد لباس نوازد اش می گوید: او بعد از تولد هیچ لباسی مناسبی نپوشیده است، چون دیگر لباسی ندارد حتی وقتی استفراغ می کند، من فقط استفراغ را پاک می کنم، چون نمی توانم آن را بشویم، چون هوا سرد است. شوهرش هم با لحنی پر از نا امیدی و درد می گوید، انتظار نداشتم دخترم در چنین شرایطی به دنیا بیاید. وی افزود: در خانه ما یک تخت اطفال برای او آماده کرده بودیم. ما بسیار خوشحال بودیم و برای تولد او آماده شده بودیم. نمی دانم چه بر سر ما آمده است. خداوند به همه ای ما کمک کند.در ۲۴ نوامبر، نوزاد اسراء در شفاخانه به دنیا آمد. متخصص زایمان پروسه عمل جراحی را بدون استفاده از دوای مسکن انجام داده است. از اینکه یکی از کارگران شفاخانه برای نوزاد لباس نداشت، ابتداء او را در رخت خواب گذاشتند.

برای افراد عادی، قرار گرفتن طولانی مدت در معرض سوء تغذیه یا سردی می تواند بر صحت آنها تأثیر بگذارد. این خطرات در مورد کودکان نوار غزه که بیش از نیمی از جمعیت آن را تشکیل می دهد، دو برابر می باشد. هیپوترمی و سوء تغذیه می تواند بر سلامت روان و عملکرد قلب، شش ها و دستگاه گوارش تأثیر بگذارد.

# د حوت ۱۰مه؛ معامله که بریا !؟

احمدمنصور




څلور کاله مخکې یوه ناشنا منظره نړۍ ولیده، د عقل بندګان یې په عقلي تفسیر/ تحلیل کې پړه شول خو ایمان او عقیدې بیا دا هر څه هغه ذات ته منسوبول، چې د تاریخ په اوږدو کې ورته مثالونه د خپل شتون، مؤمنانو سره په وعدو د وفا، او ورته د حق مسیر ثابتېدا ښودنه یې بللی شو، د حوت لسم هم فکرو او مخالفو ته خورا مهم دی، ځکه خپل یې د مبارزې، قربانۍ پایله او ورته رسېدلی هدف بولي، خو پردي یې زموږ د ضعف نقطه ،له سیرت او اسلامي تاریخ ناخبره مسلمانان په حاکم اسلامي نظام د بدنامولو یوه ښه سوژه بولي، ځکه خو د حوت په لسمه د شوي تړون اړوند مبهمې څرګندونې کوي،کله یې د ضمایمو اړوند غږېږي، کله ځینې مادې په یو داسې ډول تعبیروي چې پر ضد یې د افغان ملت احساسات را وپاروي، کاذب لوري یې تر دې کچې لوېږي چې تاریخ په اوږدو کې له کفارو سره د شویو مذاکراتو څخه هم منکر کېږي، د ملحد / کافر نسبتونه کوي،داسې ګمان کوي ګواکې چې انسانان واښه خوري!

راځو دې ته چې د حوت لسمه بریا که معامله ده:تفسیر یې راڅخه شل یویشت کاله پخواني زمان ته تلل غواړي، هغه مهال چې سُپر پاور امریکا د خپل غرور په نیل سپره وه طالب ته یې له مرګ او زندان پرته بل آفشن نه درلود، یو داسې ماحول جوړ و،چې د عقل او مادیاتو بندګانو نړۍ ته امریکا خدای پېژندلی وو، د ځمکې لاندې د اشیاؤ لیدل، د ابدي اوسېدو یې تبلیغات... معنا دا چې د روحیاتو د ځپلو په هدف یې له هرې ممکنې وسیلې استفاده کړې وه،خو تنها طالب و،چې دا هر څه یې نادیده نیول،خپلو نه شتو امکاناتو ته یې نه کتل مسؤلیت یې درک کاوه، مبارزې یو داسې شدت خپل کړ،چې دنیا ورته هک پک حیرانه شوه ، جالبه دا وه چې پرونۍ متکبره امریکا ځان ته د ختو جوړولو په فکر شوه هغه طالب ته په ګونډه شوه چې اصلاً یې پرون د ژوند حق نه ورکاوه، د مذاکراتو جدي پړاوونه په یو موټر بم د مذاکراتو بندښت په بل خلاصون هغه تاریخي صحنې وې چې غلامو فکرو نه شوای درک کولای، خلیلزاد یې سیاست کې لوېدلی لوبغاړی باله ، ویل به یې طالب خپلې محوې ته را وړاندې شوی، تړون وشو هغه تاریخي شیبې نړۍ په حیرانتیا ننداره کولې، غلام فکرو چې خپل او د بادار یې تاریخي ماتې مشاهده کړه،نورې اړتې یې پیل کړې ، رسنیز شوی تړون یې جعلي باله کله به یې ویل: ضمایمو کې یې پټې معاملې درج دي، کله به یې ویل ځینې اډې یې ورسره منلې، خو دا دي له تړون تر دې دمه څلور کاله ووتل، نه پټ ضمایم راښکاره شول، نه د شرعي احکامو د نه پلي کېدو پرېکړه چا ولیده، نه د امریکایانو اډې شتون لري او نه د بلې کومې معاملې څرک ښکاري، قصاصي قضیې مو دوو کالو کې مشاهده کړې، د بهرنیو چارو وزیر صیب په زغرده وایي که نړۍ مو په رسمیت ومني هم بګرام خو څه یو ګز ځمکه به هم ورنه کړو، نوره بریا څنګه وي؟ نه مذاکراتو کې امارت پړ شو، نه په تړون کې معاملې ثابتې شوې او نه کوم اشغالي پوځی تر سترګو کېږي که فرضاً شوی تړون بې کفیته /معامله وي، اوس به فرمایشات منل کېدل، د ملګرو ملتونو له ناسمو پرېکړو به مو مخالفت نه شوای کولای او مهمه دا چې نن به د شرعي حدودو تطبیق کې به مو زړه او ساړه کېدل.

# په مور او پلار د اولاد حقوق او آداب

سید معصوم الله عاصم

لکه څرنګه چې مور او پلار پخپل اولاد حقوق لري همدا ډول اولاد هم په مور او پلار حقوق او آداب لري چې باید رعایت شي:

۱- د نوي کوچني ماشوم تخنیک: دې ته ویل کېږي،چې په تالو کې ژوول شوي خورما او یا بل خواږه شی ومښل شي په دې سره یې د خولې عضلات قوي او د شېدو رودلو لپاره آمده کېږي، ابوموسی اشعري رضی الله عنه فرمایي: زما زوی پیدا شو هغه مې د نبي علیه السلام حضور ته وروړ هغه پرې ابراهیم نوم کېښود او په تالو کې یې ورته ژول شوي خورما ومښله د خیر او برکت دعاء یې ورته وکړه. (بخاری ٦ ج ۲۱٦ص)

۲- د نوي کوچني د سر د ویښتانو کلول: دا یو مستحب عمل دی چې پدې سره د کوچني سامعه، باصره او شامه قوي کېږي، دا ویښتان به د سپینو زرو سره تلل او بیا به دې ویښتو د وزن په اندازه سپین زر خیرات کوي د علی رضی الله عنه څخه روایت دئ چې د حسن او حسین رضی الله عنهم ویښتان فاطمې رضی الله عنها وتلل وزن یې یو درهم یا لږ څه زیات وه. (ترمذي۱ج۱۳۸ص)

نوټ: د نجلۍ د ویښتانو هم همدا مسئله ده بي بي فاطمې د زینب او ام کلثوم ویښتان وتلل او د هغوی د وزن په اندازه یې سپین زر صدقه کړل(موطأ امام مالک۴۹۴ص)

۳- په اولاد ښه نوم اېښودل: نبي علیه السلام فرمایي: د پیغمبرانو په نومونو ځانونه ونوموئ غوره نوم الله ته عبدالرحمن او عبد الله دی (ابوداود۲ج۳۲۸ص)

که چېرته مو سم نوم نه و ایښی بدل یې کړئ، د عمر رضی الله عنه د لور نوم عاصیه( ګنهګاره) وه نبي علیه السلام په جمیله بدل کړ (مسلم ۲ج ۲۰۸ص)

نوټ د ناوړه نوم اغېزه: امام بخاري د سعید بن مسیب څخه د هغه د پلار او د هغه د نیکه یو روایت کړی چې د سعید بن مسیب د نیکه نوم حزن(سخت) وه نبي علیه السلام ورته سهل (نرم) نوم انتخاب کړ،خو هغه بدل نه کړ ابن مسیب وایي د تل لپاره دا سختي او غلظت په موږ کې پاتې شو (تربیة الاولاد۱ج۷۸ص)

د نوم ایښودلو وخت: په اوله او اومه ورځ د نوم اښودلو روایات راغلي(ابوداو، نسائي)

۴-د اولاد څخه عقیقه: عقیقه د شکرانې د نعمت پخاطر اداء کېږي، نبي علیه السلام فرمایي: د هلک لخوا دوه پسونه او د نجلۍ لخوا یو پسه حلال کړئ د عقیقې څاروی که نر وي او که ښځه پروا نلري( نسایي۲ج۱۸۸ص)

د عقیقې وخت: د کوچني د زیږېدو اوومه ورځ ده.(تربیة الاولاد فی الاسلام۱ج۹۳ص)

د عقیقې احکام:

۱: د پسه پر ځای اوښ، غوا او مېښ هم عقیقه کولای شئ لکه ابوهریرة رضي الله عنه د خپل زوی څخه اوښ عقیقه کړ(ابوداؤد۱ج ۹٦ص)

۲:د عقیقې غوښه د قربانۍ په شکل ده، خو هډوکي به یې بند په بند جلا کوي ماتوي به یې نه (ابوداؤد۱ج ۹٦ص)

۵-د کوچني سنتول: څلور خصلتونه د انبیاوو علیهم السلام دي سنتېدل، عطر وهل، مسواک وهل او نکاح کول (مسند امام احمد ٥ ج۴۲۱ص)

که چېرې په کوچنوالي سنت نشو او یا هم وروسته یې اسلام راوړ په غټ والي دې سنت شي ( تربیة اولاد ۱ج ۱۰۳ ص)

٦-د کوچني لګښت په غاړه اخیستل: د کوچني نفقه په پلار لازمه ده او له ټولو صدقو زیات اجر لري، د حدیث شریف مفهوم دی تر ټولو د غټ اجر صدقه هغه ده چې په خپل اهل عیال وشي( مسلم مسند امام احمد ۲ج ۴۷۷ص)

۷- بدني روزنه یې کول: خپل اولاد به ښتلی او قوي آموخته کوئ عمر رضی الله عنه وایي: خپلو اولادونو ته غشی ویشتل، لامبو وهل ور زده کړئ او امر ورته وکړئ چې د آسونو په شاګانو په چالاکۍ ور توپ کړي او سپاره شي (.تربیة اولاد۲ج ۹۳۷ص)

۸- اسلامي ښوونه او روزنه ورته وکړئ: د ټولو تر مخه اسلامي تلقین ورته وکړئ، نبي علیه السلام فرمایي: د چا چې اولاد پیداشو په ښي غوږ کې یې آذان او په چپه غوږ کې یې اقامت وکړئ نو ام الصبیان به ورته ضرر ونه رسوي( بیهقي، تربیة الاولاد۱ج ۷۰ص)

ام الصبیان هغه باد دی چې کوچنیانو ته ضرر رسوي یا هغه جن او پیری دئ چې د کوچنیانو سره سرو کار لري ( مخکې حواله)

۹- مینه او محبت ورسره کول: اسلام د اخلاقو، تربیې او آدابو دین دئ.

الف:د بي بي فاطمې سره مینه: نبي علیه السلام به بي بي فاطمې ته پورته کېده په تندي به یې ښکلوله او په خپل ځای به یې کینوله(سیرت النبي۲ج۹۱۷ص)

ب: د ابرهیم رضي الله عنه سره مینه: نبي علیه السلام به خپل زوی ته د مدینې منورې څخه څلور میله لرې عواله نومې سیمې ته ورتله هغه یې د انا (نیا) سره وه او هلته به یې ښکلاوه.

ج: د لمسیانو سره مینه: نبي علیه السلام به خپلو لمسیانو ته د زیاتې مینې څخه ګلدسته او د ګلانو ګېډۍ ویله( سیرت النبی۲ ج ۹۱۸ص)

# تاریخ وایي او لیکي

سمسور

**په څاه کې ولوېده ، مړه شوه :**

حضرت سعید بن زید بن عمرو بن نفیل رض د قریشو د بني عدي له کورنۍ څخه و چې له نبوي هجرته ۲۲ کاله مخکې په مکه مکرمه کې وزېږید، د هغه پلار زید له هغو مؤحدینو څخه و چې د بت عبادت یې نه کولو او په بتانو باندې حلاله شوې ذبح یې نه خوړله، یوه ورځ یې په بیت الله شریف کې دېوال ته ډډه وهلې وه؛ ویې ویل:(یا معشر قریش و الله ما منکم علی دین ابراهیم غیري). ژباړه: د قریشو ټولیه! په الله ج قسم چې په تاسو کې له ما پرته بل څوک د ابراهیم علیه السلام په دین نشته. (فتح الباري ابن حجر).همدارنګه رسول الله ص د ده په اړه وایي: « انه یبعث یوم القیامة أمة وحده». ژباړه: هغه به د قیامت په ورځ ځانته د امت په توګه راپاځېږي. سیر أعلام النبلاءـــزید د خپلوانو له خوا له مکې وشړل شو، نوموړی به پټ راتلو ځکه دی د بتانو د عبادت او د هغو په نوم د ذبحو مخالف و ، چې د حق د لټون په سلسله کې شام ته لاړ، د یهودو او نصاراوو له پوهانو سره کېناست، یوه یهودي ورته وویل: که غواړې غضب دربانديې نازل شي نو زموږ یهودیت ومنه. ډېر وګرځېده او اخر د کومې عربي کورنۍ له خوا ووژل شو.

د زید زوی حضرت سعید بن زید رض په خپل قوم کې د نوم سړی و، د حضرت عمر فاروق رض خور یې په نکاح کړه او خپله خور یې هغه ته ور په نکاح کړې وه،چې د اسلام لمر په مکه کې راوخوت،نو دی څوارلسم کس و چې په اسلام مشرف شو، د ده او د ده د مېرمنې له امله عمر رض هم ایمان راوړ او د مؤمنو مسلمانانو لښکر یې پیاوړی کړ.سعید رض په خپل قوم او کورنۍ کې مشر و او له دې امله خو نه وځورول شو او نه حبشې ته مهاجر شو.کله چې مسلمانانو مدینې منورې ته هجرت وکړ دی هم مهاجر شو، له بدر غزا پرته په ټولو غزاګانو کې د رسول الله ص ملګری و، د بدرغزا کې طلحه بن عبیدالله او سعید بن زید رضی الله عنهما رسول الله ص د قریشو د کاروان د خبر په اړه لېږلي وو دوی،چې راستنېدل غزا پای ته رسېدلې وه، نو رسول الله ص د غنیمت برخه هم ورکړه او له هغه وروسته په ټولو غزاګانو کې حاضر او خپله توره یې څلولې وه.د رسول الله ص له رحلته وروسته په یرموک، اجنادین، د دمشق په کلابندي او فتح کولو کې هم موجود و، د اجنادین معرکه هم د ده په اشاره پیل شوه، چې هماغسې فتح هم د مسلمانانو په برخه شوه.

حضرت سعید رض هډور انسان و، ډېر ښه او غوره صفات یې لرل، لکه دی او مېرمن یې د عمر رض د ایمان راوړلو لامل شول، په غزاګانو کې د سپرو مشر و، مستجاب الدعوات و(چې دعا به یې کوله قبلېده) . رسول الله ص لسو کسانو ته په یو ځل په دنیا کې د جنت زیری ورکړی، نو ځکه خو له العشرة المبشرة بالجنة څخه ګڼل کېږي.

حضرت عثمان رض په عقیق نومې ځای کې ځمکه ورکړې وه چې په هغه کې به بوخت و، عبدالملک بن مروان د مدینې والي و، د هغه په وړاندې یوې ښځې دعوی کړې وه چې سعید بن زید رض زما یوه ټوټه ځمکه لاندې کړې، ده وویل چې: ما نه ده غصب کړې، د رسول الله ص دا حدیث وروایه:« چا چې یوه لوېشت ځمکه له بل شخص څخه غصب(لاندې کړه)، د قیامت په ورځ به اووه طبقې ځمکه وربانديې کېښودل شي. بیا یې هغې ښځې ته ښېرا وکړې، نوموړې ړنده شوه، بیا په څاه کې ولوېده او مړه شوه.

حضرت سعید رض د هجرت په ٥۱ کال د څه باندې اویا ۷۰ کلونو په عمر وفات شو، حضرت سعد بن ابي وقاص رض غسل ورکړ او په مدینه منوره کې خاورو ته وسپارل شو، د مدینې منورې وګړي یې په بېلټون باندې زښت زیات خپه شول، د یادونې وړ ده چې د نوموړي کنیه ابو الأعور وه او دا هم باید وویل شي چې د رسول الله ص سلارکار و، په غزاګانو کې د عشره مبشره په څېر مخکې او په لمانځه کې یې شاته ولاړ و.

انسان باید زیار وباسي او د حق پلټنه وکړي، د حضرت سعید رض پلار د مکې د مشرکانو غوندې نه و، د هغو د کړو وړو یې مخالفت کاوه، نه یې بت په خدايي مانه نه یې د بتانو په نوم د ذبح شویو څارویو غوښه خوړله،نو د حق د لټون لپاره شام ته لاړ، ډېر ښارونه یې ګز او ګام کړل څو حق ته ورسېږي، یوه یهودي ورته وویل که زموږ په دین کې داخلېږې نو په غضب کې به ننوځې، ده ورته وویل: زه له غضب او عذابه تښتم . یو عیسوي ورته وویل: ته چې په څه پسې ګرځې او لټون یې کوې ، هغه د وروستي زماني نبي او رسول دی د هغه د مبعوث کېدو وخت رانژدې شوی او هغه دلته نه شته هغه ستاسو په وطن کې په رسالت سره نازول کېږي، دی چې د وروستي زماني د رسول په تلاش کې روان شو نو په لاره کې ووژل شو ځکه خو رسول الله ص وایي:(بېشکه هغه به د قیامت په ورځ د یو امت په توګه راپاځېږي.) یهودي حبر د خپل دین د منلو وصیت ورته ونه کړ،بلکې د هغه بدي یې ورته بیان کړه، ځکه د هغوی دین له منځه تللی او منسوخ شوی دی. ولې له بده مرغه چې اوس ډېر واکمنان د یهودو تقلید کوي، هغوی چې په فلسطین کې کوم ظلمونه کوي په هغه چوپ دي!!

دلته شل کاله اشغالګرو تېر کړي او ډېرو افغانانو خو په دې هم باور نه لرلو چې بیا دلته اسلامي حکومت نه قایمېږي، نو له اسلامه پرته نور شیان یې لوستلي دوی ته د ارشاد او دعوت له لوري د کارمندانو لپاره درسونه په کار دي، ارشاد او دعوت باید د لویانو لپاره د عقایدو او فقهي کتابونه ولیکي پرې ویې وېشي او څلور میاشتې وروسته ازموینه ترې واخلي، د نومرو حد ورته وټاکي، که هغه نومرې (حد) پوره نه کړي باید بیا هغه کتاب پرې ووایي او بیا ازموینه واخلي، څو ټاکل شوې نومرې (حد)پوره کړي.

همدارنګه د مامورینو لپاره فکري پوهنه لازمي ده چې فکري پوهنه او روزنه ورکړي، ځکه ښکېلاکګرو یې دماغ ور مینځلی، که په بحث کې داخل شي داسې خبرې به کوي چې هغه یې له استعمارګرو یادې کړې دي!!!

یوه ښځه په هغه کس د ځمکې د غصب عریضه کوي چې د جنت زېری په دنیا کې وربانديې شوی دی، خو د هغې دروغ ثابتېږي او په کوهي(څاه) کې لوېږي او مړه کېږي. زموږ په هېواد کې د شل کلن اشغال له امله د اشغالګرو ګوډاګیانو دلته په شنه زور، زور واکي کړې ده، ډېرې ځمکې یې له نورو غصب کړې دي او لویې لویې ودانۍ یې پرې ودانې کړې دي، هر ډول غصب یې پرې کړی دی، د افغانستان اسلامي امارت ته پکار دي چې د غصب اړونده عریضې او دعوې ورته راشي ، باید په پوره شفافیت سره وڅېړل شي فیصله یې کړي او د دعوی د صحت په صورت کې ځمکه اصلي خاوندانو ته وسپاري.همداشان کومې ځمکې چې په شل کلن اشغال کې غصب شوې او د اړوندو ادارو د اسنادو مطابق هغه د حکومت دي نو لازمي ده چې د اصولو او مقرراتو سره سم هغه ځمکې د حکومت(امارت) املاکو ته ضم کړي، همدا اوس چې د کابل په ښار کې سړې ګرځې نو ډېرې ځمکې او سړکونه یې د غاصبانو له ولکې خلاص کړي دي چې د وطندوست انسان زړه وربانديې خوښ شي.

همداراز زورواکانو چې حکومتي ځمکې پلورلې دي، هغه هم اعاده کول او د امارت په تحویل کې ور کول لازمي دي، اما هغه ځمکې چې له ابادۍ لرې او ښارې وې خرڅې شوې دي، نو هغه هم د اصولو او مقرراتو مطابق پېرودونکو ته ور انتقالول په کاردي، دومره ډېر اقسام یې دي چې هغه په دې څو کرښو کې نه خلاصه کېږي.

# د ډېر خوراک تاوانونه

مولوي نورالحق مظهري

ژباړه: عمر رضي الله عنه فرمایي: د چا چې خوراک ډېر ششو هغه د الله د ذکر په خوند نه پوهېږي. ځینو حکماؤ فرمایلي: که د خوراک له امله ستا نس غټ و،یعنې ډېر خوراک دې کاو،نو خپل ځان فلج وشمېره یعنې یا به فلج کېږې او یا به هم داسې یې لکه فلج ځکه فلج انسان کارونه او عبادت سم نه شي کولای نو ته یې هم سم نه شې کولای. حکماؤ ویلي: لږ خوراک کوه چې په خوب کې هم حمد او ثناء ووایې. یعنې د لږ خوراک په کولو باندې انسان له ټمبلۍ ساتل کېږي، زړه، حواس او فکر یې حتی په خوب کې هم خپل واک او حس له لاسه نه ورکوي نو چې کله ویده شي خوب به یې هم داسې وي لکه عبادت؛ بد خوبونه به نهویني، عبادت ته به ژر را ولاړېږي او د خوب له وجهې به یې په عبادت کې ځنډ او خنډ نه راځي.

قال عمر رضي الله عنه: من كثر أكله لم يجد لذكر الله لذة.[الحلم لإبن أبي الدنيا]

قال بعض الحكماء: إن كنت بَطِنًا فعد نفسك زَمِنًا.[الجوع لإبن أبي الدنيا]

قال بعض الحكماء: أقلل طعامًا تحمدْ منامًا. [مجمع الأمثال]

# وروستیو اورښتونو کرګر هیله مند کړي

حبیب الرحمن رحیمي

په کور د ننه پرله پسې وچکالیو ګڼ شمېر اوبیزې سرچینې وچې کړې،د ځمکې لاندې اوبو کچه مخ پر ځوړ لاړه ،یو شمېر بڼونه هم له منځه ولاړل او ډېری کورنیو د څښاک اوبو د نه لاسرسي له امله خپلې مېنې پرېښودې او کډوال شول.د روان ژمي په منځنۍ میاشت کې هوا لمرینه او ګرمه وه،اټکل داسې و چې سږ ژمی به وچ وي خو له نېکمرغه وروستیو اورښتونو ته په کتو که څه هم زموږ هېوادوال ترې تر یوې کچې اغېزمن شول د هوا پېژندنې د کارپوهانو په وینا تر هغې کچې واوره او باران اورېدلی چې په آباد کال کې اړتیا وي.دا په داسې حال کې د اورښتونو څپه کابو په ټول هېواد خوره ده،چې په ډېری شمېر سیمو کې د کرنې موسم رارسېدلی دی،د نیالګیو ایښودلو چارې په چټکۍ سره روانې دي،نو همدا څه دي،چې کرګر په پوره زړه خپلې کرنیزې چارې پیلوي.

# اسلام د تشدد دین نه، بلکې د تشدد پر خلاف دی!

**شیخ ادریس هدفیار**

د نړی کفري او الحادي ځواکونه په خاص ډول یهود او نصاری، تل په دې هڅو کې دي چې د اسلام مقدس دین ته نړیوالو ته د زور او تشدد څخه ډک دین وښيي او د خپلو اسلامي تبلیغاتو په سلسله که مکرراً وایي: هرکله چې مسلمانان په خپل مقابل طرف بری موندلی په هغو یې بیا رحم نه دی کړی اول له منځه یې وړی دی.د کفري الحادي قوتونو دا هغه پوچه او بې بنیاده ادعا ده چې د دوی د حسد او کینو ډک را ولاړ شوي او هېڅ کوم اصل او اساس نه لري. د دوی د دې پوچې ادعا په ځواب کې باید وایو چې:اسلام د زور او تشدد دین نه،بلکې د زور او تشدد په مقابل کې را ولاړ شوی دین دی، دا د مینې، محبت ، لطف ، مهربانۍ، اخوت او عطوفت دین دی.د مرستې،ښېنې او لاسنیوني دین دی، دا د عدل او انصاف ، همدردۍ او برابرۍ، یووالي او د بشري افرادو د سعادت دین دی.دا هغه دین دی،چې ۱۴۰۰ کاله مخکې یې د بشر د آزادۍ غږ پورته کړ او د بشر د غاړې څخه د غلامۍ ځنځیرونه وشلول او انسان ته د جهالت کوڅو نه د رڼا او معرفت لورته لاره بدل کړه.هغه همدا دین و،چې د سپین پوستي امتیاز یې په تور پوستي له منځه وړ او عرب امتیاز یې په عجم. بلی ! دا د اسلام مقدس دین و،چې ټول قومي، نژادي، ژبنیز او منطقوي تعصبونه یې له منځه یوووړل.د ظلم ، تیري او تجاوز او د نیشه یي توکو استعمالول ، زنا ، لواطت ، غلا ، خیانت ، دوکه او فریب چې د جامعې د تباهۍ لامل کېږي د مخنیوي حدود یې وضع کړل او مرتکبینوته یې حدود او جزاګانې تعین کړې.اجتماعي ګټو ته یې په فردي ګټو ترجیح ورکړه او د قتل ، ترور ، وژنو او ځورولو په مقابل کې یې عبرتناکې سزاګانې وضع کړې، څو په دې ترتیب سره انسان په نړۍ کې آرام او په اطمینانه توګه ژوند وکړي.د جګړې په حالت کې هم اسلام خپلو زاړه کسانو ته د بشري ژوند پاتې کیدلو او په هغوی د مهربانۍ او عاطفې تعلیم او ښوونه کړې او انساني کرامت یې ژوندی ساتلی دی د ثبوت لپاره د اسلام د لومړی امیرالمؤمنین حضرت ابوبکر صدیق «رض» هغه وینا کافي ګڼو،چې د اسامه لښکر چې د رومیانو د یو خطرناک جګړې مقابلې ته روان وو وکړه او ویلي:تاسو خیانت مکوئ ، شبخون مه وړئ ، عهد مه ماتوئ ، مړی یا ټپیان مه مثله کوئ ، هلکان ، بوډاګان او ښځې مه وژنئ ، ونې مه باسئ او مه یې سوځوئ او میوه لرونکې ونې مه پرې کوئ ، ګډه او یا اوښ د خوراک څخه پرته مه حلالوئ، ژر دی چې تاسو به په ځینو داسې خلکو تېر شئ چې د عبادت په څپریو کې ګوښه شوي دي، نو د دوی هماغه شی پرخپل حال پرېږدي کوم چې دوی د ځان لپاره اختیار کړي دي. اوس نو د خدای په نامه و خوځېږئ.که کفري قوتونه د حسد او کینې څخه پرته دا پورتنۍ وینا په ژوره توګه مطالعه کړي یقیناًباید اعتراف وکړي چې اسلام یوازینی دین دی چې د جګړو په سختو حالاتو کې هم د خپل مقابل لوري د ژوندي پاتې کیدلو هیله مند دی او هم د هغوی د انساني کرامت د ساتلو هڅه کوي او نه تنها د انسانانو بلکې د حیواناتو ، ونو او نورو عام المنفعه شیانو ساتنه او حفاظت یې هم لومړنی دنده بولي.

# سرتېري ته سپارښتني

**دریمه برخه - حسان مجاهد**

**له بیت المال سره احتیاط**

**زړه ته را تېره سرتېریه!**

په بیت المال کې له خیانت کولو ډډه وکړه او ډېر په کې محتاط اوسه؛ ځکه بیت المال د هر مؤمن وګړي حق او په ځانګړې توګه د سپېڅلیو شهیدانو د وینو لاسته راوړنه ده، له دې امله یې بې ځایه استعمال لوی جرم او د بندګانو د هغه حق ضایع کول بلل کېږي چې له هغوی څخه له ښښنې غوښتلو پرته په هېڅ صورت نه ښښل کېږي.

نورالدین زنګي رح په داسې حال کې چې د وخت سلطان و، خو په بیت المال کې د ډېر احتیاط له امله د شام له بېوزلو کسانو څخه شمېرل کېده.

خلیفه عمر بن عبدالعزیز رح یوه ورځ خپل غلام ته امر وکړ چې څه انار راوړه، هغه چې کله انار راوړو؛ نوموړي ورته وویل: څومره ژر دې راوړو؟ هغه وویل د بیت المال په آس لاړم، عمر له دې امله سخت وژړل چې ولې د بیت المال په آس زما شخصي کار ترسره شو؟!

دغه عادل خلیفه له مړینې وروسته یوازې ۱۸ دیناره پرېښودل، په پنځه دیناره ورته کفن واخیستل شو، په څلور دیناره ورته قبر تیار شو او پاتې ۹ دیناره یې په یوولس اولادونو ووېشل شو.

**خپل وخت قیمتي کول**

**زړه ته را تېره سرتېریه!**

دا چې په حکومت کې د ننه په سرتېرو له رسمي دندو ور هاخوا کوم وخت تیرېږي؛ له دغه وخته باید کومه ګټه ترلاسه کړي او کوم مهم کارونه باید په پام کې ونیسي؟

لومړی باید هغه څه په ګوته کړو چې سرتېري یې له غوره مصروفیتونو را ګرځولي او د دوی قیمتي وختونه یې ضایع کړي دي.

**۱_ د ټلیفون ناسم استعمال**

ټلیفون په نننۍ زمانه کې له هغو اسبابو ګرځېدلی، چې له ارتیا سره په څنګ کې نورې ناوړه پایلې هم لري لکه: ناروا تصویرونه، فلمونه، سریالونه او ګیمونه کتل. خوش خونده، بې پنده او سندرو ته ورته ترانې اورېدل، اورېدې او بې ګټې ټلیفوني اړیکې پالل او داسې نور.

**۲_ بې موخې ملګري**

دا سمه ده چې هر ملګری به یوه موخه/هدف لري، خو یو نیم داسې کسان هم تر سترګو کېږي چې په ژوند کې هېڅ موخه نه لري، همت یې ډېر ټیټ او اراده یې سسته وي، لوړ فکر او ژور خیال نه لري، د ځان په څېر یې نور هم له ګټورو کارونو را ګرځولي وي. داچې ملګری له ملګري ډېر ژر تأثر اخلي؛ نو له ضرورت پرته د دغه ډول ملګرو ملګرتیا منفي اړخونه لري او کېدای شي با استعداده کسان بې ثمره پاتې شي.

**۳_ بازاري منظرې**

داچې زیاتره مجاهدین په بازارونو کې اوسي او دوی له دندو ور هاخوا په بازارونو کې له ضرورت پرته تګ راتګ کوي، تفریحي ځایونو او سیاحتي پارکونو ته ځي؛ نو د یو لړ نورو زیانونو تر څنګ دا هم یادولای شو،چې له بیت المال سره خیانت رامنځته کېږي، د عیش او هوس پرستۍ ماده قوي کېږي، له عبادت سره شوق ختمېږي، په مادیاتو روږدي کېږي، د ژوند له سپېڅلي هدفه په شا کېږي او خپل دروند حیثیت له لاسه ورکوي. د پاکستان پیاوړی دیني عالم مولانا عبد الرزاق اسکندر (رحمه الله)په یو وصیت کې لیکلي وو«طالبان باید بازارونو ته د بیت الخلا په سترګه وګوري، چې له ضرورت پرته په کې وخت تېرول هېڅ ارزښت نه لري»

**له ناوړه کارونو ډډه کول**

**زړه ته را تېره سرتېریه!**

ستا معنویت اوس هم باید د پخوا په څېر ځلانده او باطن دې صفا وي او همغه پخواني لوړ صفات له لاسه ور نه کړې لکه: تقوا، له عبادت سره مینه، له خواهشاتو پرهېز، په مادیاتو بې باوري، دعاګانې او تلاوتونه، د شپې مهال ژړا ګانې، د شهادت شوق، خپلمنځي اتفاق، اخلاص او للهیت، ایثار او صداقت. واکمني او مادیات دې باید په سپېڅلي ژوند کې بدلون رامنځته نه کړي او باید ناوړه صفاتو او اخلاقو ته دې ونه هڅوي لکه: له خپلې دندې غافله کیدل، په خپل وخت نه حاضرېدل، خپل کار بل چاته سپارل، له رخصتۍ پرته نورې شپې تېرول، ارایش او بدني ښکلا ته زیاته پاملرنه کول، د مشرانو اطاعت نه کول، په عبادت کې سستي کول، د خدمت پر ځای معاش(تنخوا) مقصد ګرځول، د شهرت او منصب غوښتنه کول، اختلاف او کرکه کول، له ناروااو څخه سترګې نه ساتل، فخر او لویي کول، په صف کې ناوړه خلک داخلول، بیت المال شخصي ملکیت ګڼل، نفلي اعمال څه، په فرضي عباداتو کې کوتاهي کول.

# خوشحال او کابل

**عبدالرؤف بینوا**

د پښتو ملي او لوی شاعر مرحوم خوشحال خان علاوه پر دې چې لوی شاعر او پیاوړی سردار و، ښه سیاح او ګرزند سړی هم تېر شوی، د شرق په ډېرو ډېرو ځایونو او ملکونو ګرځېدلی او ډېر هېوادونه یې لیدلي،په خپله یې ویلي :

کوم ملک دی له ما پاتو چې می پل نه دی
پرېښی هر ځای به ورته یاد کړم،څوک دی

سیاحت کړونی نو د خپل سیاحت په ضمن کې کابل ته هم څو واره راغلی دی، بلکې د کابل له فضا یې الهام اخیستی او دلته یې غزلې ویلې دي. مثلاً په ۱۰۸۰ه کال کې یې یوه غزله په کابل کې وویله چې خوشبختانه د زمانې له حوادثو پاتې شوې او د ده په کلیات کې ظبطه ده چې له دی یوه بیته یې تاریخ داسې څرګندېږي :

پوره زر اتیا کلونه په کابل کې
دا غزل مې په بیاض باندې تحریر کړ

په بل ځای کې د کابل باغ داسې ستایي چې وایی:

نور باغونه د نوروز په وخت غوړېږي
په اهاړکا غوړېده د کابل باغ

بل ځای د کابل د مېوو صفت کوي او وایی :

د کابل میوې خوراک دی د طوطیانو پرې
خپاره شول...

یا دا:

چې میوه یې د کابل خوړلې نه وي
د هغو تر فهم وڅکي دې کور کوري

بل ځای د کابل هوا داسې څرګندوي :

د چا زړه لکه کابل د چا بګرام دی
د یوه نصیب ساړه د بل ګرما

بل ځای د منافق او درواغجن سړي په باب کې وایي:

دروغجن ترټو په ورشي د کابل کاندې مذکور
پټې ډکې پیالې اخلي ښکاره مه خوره یو انګور

بل ځای چې د تورې تعریف کوي او ګټه یې ستایي کابل هم یادوي، وایي :

کل ګټنه ده د تورې که کابل دی که کشمېر
مړنی دی چې یادېږي هم په ساندو هم په ویر

همدا رنګه بل ځای چې د خپل شعر د آوازې خپرونه بیانوي او د خپل نظم د ګلستان ګلدستې هر لور ته خپرېویني کابل هم یادوي وایي :

ګلستان زما د نظم شګفته شو
پرې وهي شیدا بلبله پر و بال
ګلدستې یې لور په لور په ملک خپرې شوې
تر کابله تر کشمیره تر بنګال

همداسې شان د خوشحال خان په کلیات کې ډېر ځایونه کابل راوړل شوی،چې د ملي شاعر د زړه مینه د کابل سره ځینې څرګندېږي.

# شعر او ادب

## د آزادۍ جنت

**قیام الدین خادم**

هلته چې زړه نه ویرېږي؛ او سر نه ټیټوي !
هلته چې علم آزاد دی !
هلته چې دنیا د کورګیو په تنګو دیوالونو نه ده ماتې او ټوکړې ټوکړې نه ده شوې !
هلته چې الفاظ د رښتینولۍ، د عمق څخه راوځي !
هلته چې سعی په استقلال سره خپل وزرونه د تکمیل لپاره خپروي !
هلته چې د عقل صافه چینه د بېکاره دودونو په وچ شګلن بیابان کې خپله لاره نه ورکوي.
هلته چې نفس د تل پراخیدونکی تخیل او عمل پسې ځي !
اې د آزادۍ څښتنه ، په هغه جنت کې زما ملک بیدار کړه !

## غزل

**رحمت الله ګرم**

زړه مې د درد او د غمونو په قفس کې لرم
نور څه مې هېر دي د یار سترګې په هوس کې لرم

د چا د سترګو دروازه مې ټک، ټک وټکوله
ورته ویل مې یو غریب زړه دې محبس کې لرم

پر زخمي زړه دې د یار غمه کېنولی نه شم
محترم یې خو یْوه ترخه خندا په وس کې لرم

د ژوند کیسه به مې په اوښکو پای ته ورسېږي
وقفه، وقفه سلګۍ، سلګۍ په هر نفس کې لرم

چې یو ماشوم یې پاتې شوي وې نور ټول شهیدان
داسې کورونه هم په دې مظلوم ولس کې لرم

## لا ژوندي یو

**مامون**

په ګودر کې د پېغلوټو شور ماشور شته

د ځوانانو محفلونه مازدیګر شته

د ژړاوو بوربنوونکې کړیکې نشته

د خندا وو بدرګې مو په هر در شته

د ملالې غونډې ډېرې پښتنې شته

په وطن او دین مین پوځ د اکبر شته

چې د ټولې نړۍ مخ ته خنډ او خار شي

زعامت کې مو اوس هم داسې رهبر شته

د سرحد د هر یو ګام ساتنه کېږي

لا ژوندي یو او په تن پورې مو سر شته

چې د حق خبرې غوټې غوټې وایي

د مامون قلم کې دغه یو هنر شته

# افغانانو له مودو وروسته د یووالي خوند ولید

که د احمد خان ابدالي د امپراطورۍ پر مهال د هغه د زامنو او لمسیانو ترمنځ له خپل منځي اختلافاتو را واخلو، نو افغانستان تر ننه پورې د خپلو بچیانو په خپل منځي اختلافاتو کې ګټه نه ده کړې او همدا دلیل دی، چې د نورو هېوادونو په پرتله ډېر شاته پاتې دی.دا سمه ده، چې که انتقاد، نیوکه او اختلاف د وطن د ابادۍ او د افغانانو د سرلوړۍ لپاره وشي، نو ښه خبره ده، خو که د شخصي خصومت او کینې له مخې وشي نو دا باید ومنل شي، چې دا ډول خلک به هم الله ج ته ملامت وي، هم خلکو او هم ځان ته.اسلامي امارت هم د هېواد تاریخ ته په کتو دا مهمه وګڼله، چې په راتګ سره سم عمومي عفوه اعلان کړي، تر څو تېرې ټولې دښمنۍ پای ته ورسېږي او افغانان وکولی شي د امن په فضا کې له یو بل سره د مینې او محبت ژوند وکړي.

د اسلامي امارت مشران په دې پوهېږي، چې تر لسیزو جګړو وروسته نور دا هېواد امن او خلک یې یوالي ته اړتیا لري او باید داسې کړنلاره غوره کړي، چې وکولی شي افغانستان کې د تعصب او تربګنې لمن ټوله کړي او د عمومي عفوې تګلاره پلې کړي، چې الحمدلله دغه چاره بریالۍ او اوس ټول هېوادوال کولی شي په ډاډه زړه د یو او بل ترڅنګ ژوند وکړي.ټولو افغانانو او د دې هېواد فرد فرد ته پکار ده، چې د مغرضو کړیو پر وړاندې ودرېږي او په دې برخه کې د اسلامي امارت ملاتړ وکړي، تر څو بیا ځلي افغانستان د شریرو کړو لومو ته و نه لوېږي.

# افغان اعلانات

## اعــلان داوطلبی برای خریداری ادویه و برای پروژه های HER ولایت دایکندی پنجشیر وزابل

موسسه بهزیستی تحرک MOVEیک موسسه غیر دولتی غیر سیاسی غیر انتفاعی ملی بوده موسسه بهزیستی تحرک یا MOVEبا شماره جوازرسمی ۴۵ ریاست محترم انجوهای وزارت محترم اقتصاد از سال ۲۰۰۵ الی اکنون پروژه های صحی را در ولایات مختلف کشور در هماهنگی وهمکاری وزارت محترم صحت عامه تطبیق می نماید.

این موسسه به منظور اکمالات ادویه مراکز صحی ولایات دایکندی پنجشیر وزابل ادویه مورد نیاز را مطابق شرایط موسسه خریداری می نماید.بدین وسیله از تمام شرکت وعمده فروشی های ادویه که دارای جواز زرسمی وزارت صنعت وتجارت باشند و در این زمینه فعالیت دارند دعوت به عمل میاید تا جهت در یافت آفر شرطنامه وتعهد نامه از تاریخ نشر اعلان الی سه شنبه مورخ ۳- ۲۰۲۴- ۵ به دفتر مرکزی این موسسه مراجعه نمایند.

شرایط ومقررات داوطلبی:

۱-شرکت اشتراک کننده دارای جواز ایسا وراجستر شده وزارت محترم صنعت وتجارت باشد.

۲-دارای سرتیفیکت های:

GMP,AFD/QOC,CoA,CoPP,SPS,SPC

باشند.

۳-ادویه باید مطابق لست مشخصات که ضمیمه این اعلان میباشد تهیه گردد.

۴ -مطابق ماده ۷۲ قانون مالیات بر عایدات وزارت جلیلیه مالیه امارت اسلامی افغانستان۲٪ تکس از مجموع قرارداد به اساس جواز وزارت محترم صنعت وتجارت توسط موسسه بهزیستی MOVEوضع وبه وزارت محترم مالیه تحت نمبر تشخیصیه مالیه دهنده تادیه میگردد.

توت: از داوطلبان محترم خواهشمندیم که هنگام در یافت شرطنامه اسناد ذیل را با خود داشته باشند.

۱-کاپی جواز شرکت

۲-کاپی تذکره ویا کاپی کارت هویت.

۳-معرفی خط نماینده که جهت اخذ آفر معرفی گردیده است.

آدرس دفتر مرکزی: سرک چهارراهی قمبر ایستگاه موتر شویی خانه نمبر دوم کابل افغانستان.

جهت معلومات بیشتر به شماره های ذیل به تماس شوید.۰۷۸۵۷۶۹۳۴۷و ۰۷۰۲۴۱۰۹۴۵

٤٨١٨

+++++++

## اطلاعیــه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد) تهیه و تدارک آهن زاویه گلوونایز گرم برای ساختن براکت های ۲۲۰ کیلو ولت مورد ضرورت مسیر لین انتقالی ارغندی سید اباد الی غزنی تحت شماره داوطلبی (برشنا /۱٤۰۲/باز ملی/ اجناس-۹۱ ) با شرکت نوین سیمیا جواز نمبر 204 -D-03 با داشتن محل اصلی { شهرک صنعتی فاز اول بلاک ۲۰٤ گذزه هرات} به مجموعی قیمت به مبلغ ۲,٤۷٤,۵۷۷/٦ دو میلیون و چهار صد و هفتاد و چهار هزار و پنج صد و هفتاد و هفت عشاریه شش افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت - دهمزنگ - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

+++++++

## اطلاعیــه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود: به اساس فیصله شماره ۲۳٤ مؤرخ ۱٤٤٥/۰۸/۱٦ کمیسیون محترم تدارکات ملی؛ ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد تا به نمایندگی از دافغانستان برشنا شرکت قرارداد لات دوم پروژه: تهیه و تدارک ۸ قلم مواد خام پروسه تولید پایه های آهن کانکریتی، ۲۸ قلم تجهیزات برقی جهت ویرنگ میتر بکس و ۲۲ قلم آهن آلات پروسه تولید براکت شامل سه لات تحت شماره داوطلبی NPD/DABS/1402/G-036/NCB، را به شرکت ساختمانی سرکسازی، تولیدی مواد ساختمانی و تخنیکی مجتبی علی دارای نمبر جواز فعالیت D-27345 و آدرس چوک تالاشی کاروان پلازا منزل ۲، اطاق ۲۵، مرکز ننگرهار-جلال آباد؛ به قیمت مجموعی لات دوم: ۲,۳۱۳,۳۳۰ افغانی (دو میلیون و سه صدو سیزده هزار و سه صدو سی افغانی)، اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات به ریاست تدارکات ملی ارائه نمایند.

آدرس: آمریت تسهیلات تدارکاتی، معاونیت تخنیکی، ریاست تدارکات ملی، ریاست عمومی اداره امور، پشتونستان وات، کابل - افغانستان.

یادداشت: این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

++++++++

## اطلاعیه لیلام

اداره نوی کابل بانک ۶۲ قلم داغمه جات و ۷ پایه جنراتور داغمه را در نمایندگی ارزاق قیمت خویش به تاریخ ۱۴۰۲/۱۲/۱۹ از طریق پروسه لیلام به فروش می رساند ، بناء اشخاصی که خواهش خریداری داغمه جات متذکره را داشته باشند درخواستی های خویش را به مدیریت عمومی خدمات نوی کابل بانک تسلیم نموده لست داغمه جات را ملاحظه پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع پروسه داوطلبی نقدا اخذ میگردد. ۴۷۷۲

+++++

## اطلاعیه فروش و تغییر اسم شفاخانه

اسامی محترم عبدالکافی فرزند عبدالهادی مالک ( کلینیک سراپا بهارستان صدیقی ) که قبلا ذریعه مکتوب شماره ۴۹۵۶۰۶ مورخ۱۳/ ۵/ ۱۳۹۸ رسما از طریق این اداره در مربوطات ناحیه دوم شهر کابل افتتاح گردیده ، بتاسی از آن ذریعه مکتوب شماره ۶۱۴۰۴۰ مورخ ۱۴۴۵/۸/۸ رسما کلینیک خویش برای مدت دو سال عدم فعالیت اخذ نمودن ، اکنون طی درخواستی جداگانه به مقام محترم وزارت صحت عامه خواهان انتقال آن از ناحیه دوم به مربوطات ناحیه ششم شهر کابل و همچنان خواهان تغییر نام به اسم کلینیک سراپا صوفیا گردیده است که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی که در مورد کلینیک مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به وزارت صحت عامه ریاست تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل می باشد.۴۷۹۹

++++

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی هری صداقت لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۷۷۱۵-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای ذبیح الله فرزند اختر محمد بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۸۰۷

++++++

## اطلاعیه فروش موتر

شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۴۹۹۲۳-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای رضوان الله فرزند محمد اسرائیل بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۷۹۷

++++++

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حسیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۳۶۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد فیروز فرزند محمد ظاهر بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۸۰۰

++++++

## اطلاعیه فروش موتر

شرکت بهبود نوید لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۵۱۶۱ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای گل رحمن فرزند غلام دستگیر بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۸۰۱

+++++

## اطلاعیــه فروش امتیاز دواخانه

محترم مجتبی کمال فرزند جمال الدین کمال ولدیت کمال الدین کمال دارنده تذکره نمبر ( ۳۷۰۲۶- ۰۸۰۱- ۱۴۰۱ ) مسکونه اصلی ولایت کابل وکیل شرعی امتیاز دواخانه نوی تسل واقع ولسوالی دولت آباد ولایت فاریاب طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم سید جلال الدین فرزند سید صادق ولدیت سید صدیق دارنده تذکره شماره ( ۱۷۷۴۹۷۷۲ ) ( ج ق ۱۳۸۶ ص ۶۱ ث ۳۰۵) مسکونه اصلی ولایت فاریاب گردیده است .اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۴۷۶۶

++++++++

## اطلاعیه فروش موتر

شرکت عاشقان خواجه عبدالله انصاری لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۸۸۳۴-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالله فرزند نعمت الله بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۷۹۸

++++

## اطلاعیه

جهت خدمت به اقتصاد کشور و فراهم آوردن تسهیلات برای تاجران ، موسسات ، کسبه کاران و تمام ملت شریف کشور.

اشخاص که اسامی شان ذیلا ذکر گردیده است :

محترم غلام صدیق فرزند محمد داود مسکونه ولایت هرات .

و محترمه ماریا بنت خواجه زین الدین مسکونه ولایت هرات.

درخواستی خویش را جهت اخذ جواز فعالیت بانکداری در کشور به مقام عالی د افغانستان بانک ارایه نمودند . بناء به اطلاع هموطنان عزیز کشور رسانیده میشود تا در صورتیکه ملاحظات ،نظریات ، انتقادات و شکایات در مورد اشخاص فوق الذکر داشته باشند طی مدت ۲۰ روز از آغاز تاریخ اعلان فوق الذکر به مدیریت محترم جواز دهی آمریت عمومی نظارت بانکی د افغانستان بانک ، و یا ایمیل آدرس Info. bsd.@ dab.gov.af با اسناد و مدارک موثق ،ارایه نموده ممنون سازند.۴۸۰۹

++++++

## اطلاعیه با نک ملی

«بانک ملی افغان در نظر دارد تا بالای ملکیت خویش واقع ولسوالی اندخوی ولایت فاریاب که دارای (۳۱۸/۲٦) مترمربع مساحت است، یک باب تعمیر به شکل مدرن و اساسی اعمار نماید، اشخاص شرکت ها و موسسات که واجد شرایط باشند، و خواهش سرمایه گزاری دراعمار تعمیر بالای ملکیت مذکور با عقد قرارداد طویل المدت الی ۱۵ سال داشته باشند، درخواست های خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۱) یوم کاری به مدیریت نمایندگی بانک ملی افغان اندخوی و یا مدیریت عمومی املاک واشتراکات بانک ملی افغان واقع ابن سینا وات کابل - افغانستان بسپارند، شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند ، پول حق الاشتراک غیر قابل برگشت وتضمین نقدأ اخذ میگردد.۴۸۳۱

+++++++

## د کابل ولایت (۱۵مې ) ناحیې اړوند د (۵۱.۸۸) جریبه ځمکې د داوطلبۍ خبرتیا !

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت (۱۵) مې ناحیې اړوند د آریا ښارګوټي ته څېرمه د هوشمند ښارګوټي (۵۱.۸۸) جریبه ځمکه، چې میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۳۳۴۶۰۰) افغانۍ ده، داوطلبۍ ته وړاندې کړي.ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي پورته ذکر سوی دولتي ملکیت په کرایه ونیسي، کولای شي، چې خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۲/۱۲/۱۳مې نېټې څخه تر ۱۴۰۳/۰۱/۰۳) مې نېټې پورې د دولتي املاکو لوی ریاست ته و سپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي.

د آفرګشایۍ ټاکلې نېټه: د (۱۴۰۳ کال حمل میاشتي ۴مه) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.

ځای: د سینما پامیر ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۵ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست - د مرکزي ترونونو د ارزونې لوی مدیریت.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲۳ - ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

۴۸۴۲

## د آنلاین صرافیو فعالیتونه...

د افغانستان بانک یو ځل بیا هېوادوالو ته خبر ورکړی چې تر اوسه هېڅ شخص یا شرکت ته د آنلاین صرافۍ د فعالیتونو جواز صادر شوی نه دی او دا ډول فعالیتونه غیرقانوني ګڼل کېږي.د افغانستان بانک له هېوادوالو غوښتي،چې د دغه شان معاملو د خطرونو، زیانونو او مسئولیتونو په پام کې نیولو سره دې له دغه ډول شرکتونو او وګړو سره د آنلاین معاملو له ترسره کولو څخه ډډه وکړي.

## له حیرتان بندره د ورځې...

او ۸۶ ټنه انتقالات درلودل، سږکال د تېرو ۱۱ میاشتو په موده کې مو دوه میلیونه، ۸۷۶ زره او ۱۹۰ ټنه صادرات او واردات درلودل، چې په اوسط ډول د ورځې لس زره ټنو ته رسېږي»بلخوا د بلخ ولایت د سوداګرۍ او پانګونې خونې اجرائیه آمر شکیب اکبري وايي، چې تر مزارشریف ښار پورې د دې اوسپنې پټلۍ پر غځولو او د فرعي لارو په جوړولو سره به سوداګرو ته ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.« پرته له شکه چې د اوسپنې پټلۍ لار د سوداګرو د توکو د لېږد رالېږد په برخه کې ګټور تمامه شوې او د نورو لارو په توپیر د دوی مال هم د خوندیتوب له اړخه محفوظ وي؛ نو له همدې امله ټرانزیټ زیات شوی.»په همدې حال یو شمېر سوداګر هم د اوسپنې پټلۍ لار د سوداګریزو توکو د انتقال لپاره، یوه اسانه، ارزانه او خوندي لار یادوي.په بلخ ولایت کې یو تن سوداګر قلندر رحیمي وايي، چې که د هېواد نورو ولایتونو ته هم د اوسپنې پټلۍ لار وغځېږي، نو سوداګر به له زیاتو اسانتیاوو برخمن شي.« دا چې په ټول هېواد کې امنیت ټینګ دی، پکار ده، چې له دې اعظمي نعمت څخه باید ګټه واخلو، مثلاً د اوسپنې پټلۍ، هوايي او ځمکني ټرانسپورټ نه باید پوره ګټه واخلو، ځکه دا د یوه هېواد په اقتصاد کې مهم رول لري او له همدې لارو ترانزیټ ارزانه تمامېږي»دا په داسې حال ده، چې د حیرتان - مزارشریف د ۷۵ کیلومتره اوسپنې پټلۍ پروژې د بیارغونې چارې تېره اوونۍ د هېواد د اوسپنې پټلۍ اداري په مالي لګښت او د ازبیکستان د اوسپنې پټلۍ اداري په همکارۍ پیل شوې، چې د درې میاشتو په موده کې به د یاد مسیر رېلي او غیر رېلي برخې په بشپړ ډول ورغول شي.

## توزیع مواد خوراکه...

رسیدگی نمودند. همچنین این کمیته در ساحات و قریه جات دور دست مرکز ایبک مانند رباطک، منقوطن، خواجه مومن و کوسه سای که مالداران از ولسوالی های خرم و سارباغ و روی دوآب آمده بودو نیاز مبرم به رسیدگی داشتند از طرف کمیته رسیدگی و مواد خوراکه حیوانی توزیع گردید.

## د افغانستان بانک نن ۱۶ میلیونه...

صرافانو او تجارتي بانکونو څخه غوښتي، چې په دغو داوطلبیو کې دې ګډون وکړي او د داوطلبۍ ګټونکي یې مکلف کړي چې خپل حسابونه د ورځې تر پایه پورې تصفیه کړي.په خبرپاڼه کې دغه راز یادونه شوې ده چې د معاملو قسمي ترسره کول مجاز نه دی او د لیلام ګټونکي دې د خپل ذمت پیسې ټولې یوځای نغدې او یا هم په حوالې سره په ټاکلې موده کې په بانک کې تحویلې کړي.تر دې وړاندې هم د افغانستان بانک د افغانیو پر وړاندې د ډالرو د ارزښت د کمښت په خاطر ۱۷ میلیونه ډالره وپلورل. د افغانستان بانک، پرون په بازار کې د یوه امریکایي ډالر پر وړاندې د ۷۲،۴۶ افغانیو د تبادلې خبر ورکړی دی.

## د کابل ژوبڼ ساحې ته...

حیوانات باید داخلي وي، که هغه مرغان دي او یا هم حیوانات، ځکه چې خلک کورني حیوانات وپېژني او په طبیعت کې له دوی سره مرسته وکړي او د دوی د نسل دورکېدو د مخنیوي لپاره ګټور تمام شي؛ نوموړی څلور لسیزې جنګونه، بې سوادي، قاچاق او د ځنګلو قطع کول د حیواناتو او مرغانو دکمښت لامل ګڼي، چې په وینا یې دغه مرغان او حیوانات بېرته له ګاونډیو هېوادونو په راتګ دي. ثاقب وايي چې د کال تقریبا ۱۰۰ زره د وړکتونونو او ښوونځیو ماشومانو ته وړیا اجازه ورکوو، چې له ژوبڼ څخه لیدنې وکړي، د حیواناتو په اړه عامه پوهاوی ورکوو، تر څو دوی بیا خپلو کورونو کې د حیواناتو په ارزښت خبرې وکړي او په خلکو کې عامه پوهاوی زیات شي.

خو عام نظر دا دی چې د ژوبڼ ساحه محدوده ده او باید حکومت ورته پاملرنه وکړي، خو د یاد ژوبڼ مسوولین هم دا ستونزه مني او ادعا کوي، چې راتلونکی کال به د ژوبڼ لپاره ډېر زېري ولري، چې تر ټولو مهم یې د نوموړي ژوبڼ ۱۰۵ جریبه پراختیا ده؛ په اړه یې ثاقب وايي: سږکال به لخیره دا نوی کال د ژوبڼ لپاره له لاسته راوړنو ډک کال وي، د ژوبڼ د پراختیا پلان مو نهایي کړی دی او د کابل ښاروالۍ ته مو لېږلی دی. چې ۱۰۵جریبه به پراخېږي، پلان لرو چې اوسنی ژوبڼ د ټرېننګونو مرکز وګرځي او همدارنګه د زونونو په سطحه معیاري ژوبڼونه ولرو.

د کابل ژوبڼ د وترنرۍ څانګې امر عبدالرحمن میوند په ټول ژوبڼ وګرځولو؛ دی وايي چې د کابل ژوبڼ نړیوال رسمیت لري او له اصولو سره سم دغو حیواناتو ته خواړه ورکوو، په یخنۍ کې هغه حیوانات چې د ګرمې وینې لرونکې وي، قرنطین کوو یې او ځینو ته مو په خپلو خونو کې بخارۍ ایښې دي. د نوموړي په وینا دلته د روغتیا پوره ټیم شتون لري، چې د حیواناتو روغتیا ته پام کوي، هغه وايي: دلته یو مسلکي ټیم شته ، چې حیوانات او مرغان په خپل وخت کې تداوي او قرنطین کوي ، چې منظم کلینیک، درملتونونه، لابراتوار، عملیات خونه او د اړتیا وړ هر ډول وسایل موجود دي. میوند د دې ژوبڼ د روغتیا برخه داسې یادوي: د اسیایي ممکالکو د ژوبڼونو یو مهم کس، چې هغه د کابل له ژوبڼ څخه لیدنه وکړه، هغه و ویل چې د کابل ژوبڼ د منطقې په سطحه د صحي، پاکارۍ او د حیواناتو د شتون له لحاظه یو ډېر ښه ژوبڼ دی.د کابل ښاروالۍ ویاند نعمت الله بارکزی هم د دغه ژوبڼ پر اهمیت خبرې وکړې او وایي، چې د کابل ژوبڼ ته له هر اړخه پاملرنه کېږي، چې ژوبڼ د کابل یوه شتمني ده او ښاروالۍ پلان لري، چې دې ژوبڼ ته پراختیا ورکړي.دغه مسوولین د پرمختګونو ترڅنګ له هیوادوالو ګیله من هم ښکاري چې ګواکې ژوبڼ کې حیوانات ځوروي؛ دوی په خلکو غږ کوي چې له حیواناتو سره دې احتیاط کوي او له تاوان رسولو څخه دې ډډه وکړي.

نورو هیوادونو کې شاید ژوبڼ یوه عادي خبره وي، خو د افغانستان غوندې هېواد کې خلکو ته د تفریح له پاره یو په زړه پورې ځای دی.د یادولو ده چې د کابل ژوبڼ ته د یو علمي او څېړنیز مرکز په توګه له ۸ پوهنځیو څخه محصیلین هم د زده کړې لپاره ورځي.

## د ملي شتمنیو ساتنه...

لسګون چاپ یې د خپل قیمت څخه دوه برابره لوړ دی. د هېواد شتمني باید هر هېوادوال په خپله وساتي ځکه چې همدا پیسې بېرته په کوردننه په سوادګریزه راکړه ورکړه کې لاس په لاس کېږي، که مو ږ فکر وکړو، هر هېواد د نړۍ په معیار او د هغوی په وړاندې د خپلو پیسو ساتلو پلان د ټولو زیات اړین بولي، ځکه: که چېرته د نړیوالو رایجو پیسو پر وړاندې د خپلو پیسو ارزښت ونه ساتي، بیا نو لرې نه ده د هغه هېواد پیسې ارزښت ټیټ یا له لاسه ورکړي په نړیواله سطحه ځینو هېوادونه د یوه هېواد پیسه اخلي، چې د پیسو د ارزښت په لوړېدا کې مهم رول لري، د بېلګې په ډول امریکایي ډالر چې ډېری هېوادونه او سوداګر یې اخلي، که سوداګر او پانګه اچوونکي د ډالرو غوښتنه بنده کړي، نو د ډالرو ارزښت به را کم شي، او که چېرته په مارکېټ کې د پیسو عرضه زیاته شي، یانې هر څوک غواړي چې خپلې پیسې بهرنیو بانکنوټونو ته واړوي، نو د پیسو ارزښت خپله را ټیټېږي

دلته مو د ځینو هېوادوالو نظرونه راخیستي ، چې څنګه پیسې وساتو تر څو زړې نه شي؟

محمد عمرله اتریش څخه راسره نظر شریک کړی، چې وایي:یوازې افغانستان نه دی چې پیسې پکې زاړېږي، بلکې د نړۍ پر مختللو هېوادونو کې هم دا چاره روانه ده چې پیسې یې زړې اوله کاره ولوېږي؛ خو هغوی بیا د پیسو ژرغورلو لپاره بدېلې لارې لري هغه دا چې د پیسو راکړې ور کړې، سوداګرۍ او نورو معاملو لپاره یې سیستم برېښنایي کړی ، تر څو د کار وخت د پیسو په ورلو کې تېر نه کړي، بل دا چې بانکنوټونه له زړښته وژغوري. له بده مرغه باید ووایم چې افغانستان کې لا تر اوسه د پیسو راکړه ور کړه په فزیکي ډول روانه ده چې ور سره افغاني بانکنوټونه له ټولو ژر زړېږي. که چېرې افغانستان کې د پیسو پر سر معامله او سوداګریز سیستم مو برېښنایي نه شي، نو په اسانه نه شو کولای د بانکنوټونه د زړېدو مخه ونیسو.د پلازمېنې کابل اوسېدونکی او د اقتصاد پوهنځۍ زده کړیال، خیبر ندیم وایي:

هر څه په عامه پوهاوي کېږي، نو د پیسو د ارزښت، ساتلو او سوداګریزو راکړو ور کړو کې باید ټولو هېوادوالو ته د عامه پوهاوي له لارې و ښودل شي چې خپله ایماني او انساني وظیفه د پیسو ساتلو برخه کې تر سره کړي، نو هېوادوال دې هم د بیت المال په ساتلو کې مرسته وکړي، ځکه همدا پیسې له بیت المال څخه ورکول کېږي. که چېرته دا ډول کړنې تر سره شي، نو د هېواد اقتصاد به پښو ودرېږي، بانکنوټونه به مو د منځه تللو له ګواښ څخه ژغورل شوي وي .

د پیسو د ارزښت، کیفیت اوزړو بانکنوټونو ساتلو او ټولولو په اړه مو غوښتل د افغانستان بانک نظر واخلو له د ډېرو اړیکو نیولو سره سره بیا هم بریالي نه شو تر څو د هغوی نظر له ځان سره ولرو.

## یوازې عدالت د نظام...

او ثبات یقیني وي. مطلب دا چې همدا عدالت یوازنی هغه خصلت دی، چې د یو ملت لپاره دا ټولې ګټې تضمینولی شي. موږ ټول باید په دې وپوهېږو، چې د نن زمانې له وګړو د هېچا اعمال پټ نه شي پاتې کېدی، دا وخت د هر کس په جیب کې د ګردې نړۍ اړیکې او معلومات پراته دي، نو که عوامو ته څرګنده شي چې حاکمان یې واقعاً عدالت ته ژمن خلکو سره رښتیني او بیت المال ته د یو ډېر درانه امانت په سترګه ګوري، نو طبیعي ده،چې د خلکو غوڅ اکثریت او ټول مخور اشخاص به یې په کلکه ننګه کوي. مقصد دا چې د حکومت له کرداره د خلکو د ډاډ او باور کچه بېرته خپله د دوی تر عدالت، اخلاص او مالي شفافیت پورې تړلې ده، نو که خدای مه کړه، خلکو ته په ډاګه د حاکمانو خیانت، ظلم او ځان پالنه ور معلومه شوه، نو پرته له شکه چې د ملت اکثریت به مخ ترې اړوي، څښتن تعالی به نا خوښه او دا ډول حاکمان به اخر پای،له خپلو ولسونو سره په جګړه او یوازنی محسوس فعالیت به یې د خپل واک ساتنه او د خپلو شخصي ګټو خوندي کول وي. لنډه دا چې عدالت که څه هم ګڼ اړخیزې معناوې لري، خو ډېره مهمه پکې دا ده، چې حاکمان له خپل رعیته را غونډ شوي بیت المال کې له خیانته ځان وساتي، خپل ځان پرې سوکاله او د رعیت د مشکلاتو غم ونه کړي او بل دا چې د خپلوانو، اندیوالانو او غوړه مالانو تر اغېز لاندې رانه شي،ځکه همدغه د ځاني ګټو د پالنې احساس دی، چې هم په بیت المال کې د خیانت لامل ګرځي، هم پر نورو د ظلم علت کېدی شي او هم د رشوت، غلاګانو، او لاس لاندې وګړو، سره د ظلم او جبر باعث ګرځي. پر دې اساس ویلی شو چې که څوک د اسلام پالنې او جهادي ارمانو د تر سره کولو او په هېواد کې د اسلامي نظام د ټینګولو رښتینی ارمانجن وي، نو دا کار پرته له عدالت او مالي شفافیته هېڅ امکان نه لري، ټولو ته یې د توفیق غوښتونکي یو.

## د اسلامي امارت مثبت انځور...

ټولنې او ځانګړو بنسټونو سره شریک کړې.ښاغلي دلترو ویلي؛ دا مهال دوی په افغانستان کې له یو شمېر پوځي او ملکي ادارو سره همکاري کوي او پلان لري، چې له اړونده افغان بنسټونو سره خپلې مرستې پراخې کړي.د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د جینواکال له مرستو نه مننه کړې او ویلي یې دي، افغانستان کې د بشپړ امنیت په راتګ سره د مرستندویه او بې طرفه بنسټونو فعالیت ته تر بل هر وخته ښه زمینه برابره شوې ده. نوموړي د جینواکال مسئولینو ته په خطاب کې ویلي؛ د افغانستان واقعیتونو له نړیوالو بنسټونو سره شریک کړئ او اسلامي امارت ټولو همکارو بنسټونو ته ډاډ ورکوي، چې په افغانستان کې خپلې چارې په ازادانه ډول له اصولو سره سمې پر مخ یوسي.مولوي عبدالکبیر زیاته کړې، د اسلامي امارت اړونده اداري به له جینواکال سره خپلې همکارۍ پراخې او د لاغوره فعالیت زمینه به ورته برابره کړي.

## د مرستو په موخه را ټول...

کړې، چې ۱۱۷ کسان پکې شهیدان او ۷۶۰ نور ټپیان شوي دي.نړیوالې ټولنې د یادې پېښې په اړه د بشپړې پلټنې غوښتنه کړې او ګڼو هېوادونو یې په مقابل کې غبرګونونه ښودلي دي.د ملګرو ملتونو سرمنشي یاده پېښه غندلې او ویلي یې دي، چې نهیلي خلک بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.بل لوري ته د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو مشر جوزیپ بوریل یاده پېښه د نه منلو وړ ګڼلې ده.د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون ویلي، چې د اسرائیلي ځواکونو له لوري ملکي خلک په نښه شوي.جرمني او ایټالیا د دې پېښې د پلټنې غوښتنه کړې او فلسطین بیا دا پېښه عام وژنه بللې ده.د فلسطین عامې روغتیا وزارت وایي، چې د صهیونیستي یرغلګرو د بریدونو له پیل راهیسې ۳۰ زره او ۲۲۸ کسان شهیدان او ۷۱ زره او ۳۷۷ نور ټپیان شوي دي.

## د افغانستان او ترکمنستان...

بللی دی.د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست هم په یاد هېواد کې د افغان حکومت او خصوصي سکتور له پلاوي د ګرم هرکلي مننه کړې او یاد کنفرانس یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د ودې لپاره مهم ګام یاد کړی دی.هغه له افغانستان څخه سوېلي آسیا هېوادونو ته د ټرانزیټ د لارو چارو، په افغانستان کې د پانګونې زمینې د برابرېدو او په هېواد کې د پانګونې د ګټو په اړه خبرې کړې دي.د یادونې وړ ده چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د سرپرست نورالدین عزیزي په مشرۍ او د هېواد د خصوصي سکتور د استازو په شتون، د افغانستان اسلامي امارت یو پلاوي پرون د ترکمنستان پلازمېنې عشق آباد ته سفر وکړ.

## باشنده‌ی کاپیسا...

سعید خان وقف کرده است. وی افزود عرضه خدمات متوازن تعلیمی را برای اولاد وطن، حق مسلم همه هموطنان دانست و در تحقق این امر برای مردم آن ولایت اطمینان داد.

## فراهم آوری تسهیلات...

زمین‌های موردنیاز در چابهار، اولویت به کالاهای ترانزیتی ازاین مسیر، فراهم‌آوری تسهیلات به تاجران و سرمایه‌گذاران افغانستان در چابهار و سایر موضوعات مرتبط بحث و تبادل‌نظر نمودند، حجت‌الله عبدالملکی، از همکاری کامل ایران اطمینان داد.

## د تېر نظام سلګونه کارکوونکي...

ته ویلي چې په تېرو څو میاشتو کې د پخواني حکومت څه باندې ۵۰۰ پوځي او ملکي کارکوونکي چې له خپلو کورنیو سره له پنجشېر څخه بهر ته تللي وو، بېرته افغانستان ته راستانه شوي او اوس په خپل ولایت کې ژوند کوي.نوموړي زیاته کړه، چې په خپلو هڅو سره د پنجشېر په کچه له بهرنیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو ځوانانو لپاره د کار زمینه برابره کړې او نورو ځوانانو ته هم ډاډ ورکوي چې د اسلامي امارت دروازه د ټولو هېوادوالو پرمخ خلاصه ده.د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې امنیت تامین شوی او هر څوک کولای شي، په ډاډه زړه د هېواد ګوټ ګوټ ته سفر وکړي.

## واورو کې بند لسګونه...

ژغورلي او همدارنګه د (ډبلیو اف پي) موسسې مرستندوی ټیمونه، چې د غور د الفاروق ولسوالۍ په لاره بند پاتې وو هم ژغورل شوي دي. سرچینې زیاته کړې، چې د ۲۱۵ العزم قول اردو ځواکونو بیا د هلمند په نادعلي ولسوالۍ کې ۴ کسان له ډوبېدو څخه ژغورلي دي. یاد وزارت پر خپله اېکس پاڼه همدارنګه زیاته کړې، چې د منصوري قول اردو اړوند امنیتي او دفاعي ځواکونو په وروستي مورد کې د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ اړوند د رامک په غرونو کې یو شمېر بند پاتې کوچیان ژغورلي او مالونه یې د نظامي وسایطو په مرسته خپلو سیمو ته انتقال شوي دي. دا په داسې حال کې ده، چې ټولو امنیتي او دفاعي ځواکونو ته لارښوونه شوې، چې په هر ډول حالاتو کې د هېوادوالو د ځان او مال ساتنه وکړي.

## ننګرهار کې د ځنګلونو...

نوموړي وویل، چې د افغانستان راتلونکي نسلونو مؤسسه د ۱۲۷۱ عدده تراسونه کیندلو پلان لري، چې له دې ډلې تر دې دمه ۷۴۶ کیندل شوي او د پاتې نورو چارې روانې دي ،چې د سیمې ۷۲۵ تنو ته په کې د کار زمینه هم برابره شوې ده .ښاغلی تنها وویل تر راتلونکی یو کال پورې د افغانستان راتلونکي نسلونو مؤسسه د ونو او بوټو ساتلو کې خلکو سره مرسته وکړي او له هغې وروسته به د سیمې خلک په بشپړ ډول د دې ملي شتمنیو ساتنه او پالنه کوي. د افغانستان راتلونکي نسلونو مؤسسه د بهسودو ولسوالۍ سربېره په ځینو نورو ولسوالیو کې هم د کانالونو جوړولو او رغولو تر څنګ د اصلاح شویو تخمونو، کرنیزو وسایلو، کیمیاوي سرو ،کورنیو چرګانو او نورو برخو کې د بزګرانو لاسنیوی کوي.

## یک مقدار مواد منفجره...

جاسازی شده بود و به شکل مخفیانه از کشور همسایه به افغانستان داخل ساخته شده بود.به اتهام این قضیه یک تن دستگیر شده وغرض تحقیقات به ارگان های امنیتی سپرد ه شده است.

## دیني عالمان د اذهانو په...

هغوی ته د ستونزو د حل ډاډ ورکړ او ویې ویل چې اسلامي امارت به د خپل توان په محدوده کې یادو مواردو ته رسیدنه وکړي.

# Shariat Daily


**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 03 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 393 February


د ریاست الوزراء اداري مرستیال :

# دیني عالمان د اذهانو په روښانه کولو کې اغېزمن رول لري



د ریاست الوزراء اداري مرستیال د هېواد د بېلابېلو ولایتونو له یو شمېر دیني عالمانو، متنفذینو او مجاهدینو سره وکتل. دوی د سرتاسري امنیت د ټینګښت، د سوداګرۍ او اقتصادي زمینو د پراختیا او په هېواد کې د اداري فساد د لمنځه وړلو په برخو کې د اسلامي امارت پر لاسته راوړنو خوښي څرګنده کړه. یادو قومي مشرانو، دیني عالمانو، او مجاهدینو همدارنګه خپلې ستونزې او وړاندیزونه د ریاست الوزراء له اداري مرستیال سره شریک کړل او د اسلامي امارت له مشرتابه څخه یې غوښتنه وکړه، چې ځوانانو ته د ښوونې او روزنې او شغلي فرصتونو د رامنځته کولو برخو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. په ورته وخت کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال په دغه کتنه کې وویل چې دیني عالمان او قومي مخور د هېواد د بېلابېلو اقشارو ترمنځ د ملي یووالي د ټینګښت او د عمومي فکرونو په روښانه کولو کې اغېزمن رول لري. د ریاست الوزراء اداري مرستیال همدارنګه ۷مخ

دافغانستان بانک:

## د آنلاین صرافیو فعالیتونه غیر قانوني دي



د افغانستان بانک ویلي چې د «آنلاین صرافی» د فعالیتونو جواز تر اوسه نه دی صادر شوی او دا ډول فعالیتونه غیر قانوني ګڼل کېږي. یاد بانک پرون په دې اړه د یوې خبرتیا په خپرولو سره ویلي چې په هېواد کې یو شمېر وګړي د «آنلاین صرافی» په نوم مالي معاملې ترسره کوي او «AgiGpt-QT٤»، فورسیج او داسې نور په بازار کې فعالیت لري. ۷مخ

## توزیع مواد خوراکه حیوانی به مالداران ولایت سمنگان

به اساس هدایت ملا عبدالاحد فضلی والی سمنگان کمیته اضطراری متشکل از ریاست‌های اقتصاد، مبارزه با حوادث، آمریت سرحدات و اقوام قبایل به سرپرستی مولوی نیاز محمد عابد رئیس زراعت جهت رسیدگی به نیازمندی‌های خوراکی مواشی و توزیع آن ایجاد گردید. هدف از ایجاد کمیته رسیدگی به نیازهای اولیه و خوراکی مالداران توزیع کاه، کنجاره، و دیگر ضروریات است تا از آسیب رسیدن به مواشی جلوگیری شود. این کمیته دیروز جمعه ایجاد شد که در راس آن مولوی نیاز محمد عابد رئیس زراعت سمنگان قرار دارد، در هماهنگی با ریاست های مربوطه به قریجات دور دست ولسوالی های خلم، حضرت سلطان و ولسوالی خرم سارباغ رفته مواد خوراکه حیوانی از قبیل کاه، کنجاره به مالداران توزیع نموده و هم مواشی گیر مانده از برف را نجات داده و به مشکلات مردم و مالداران از نزدیک ۷مخ

## ارزګان کې د زراعت او مالدارۍ پروژې پراختیا مومي

د ارزګان دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس الحاج مولوي عبدالصمد مقبول په دې ولایت کې د مدیرا مؤسسې ولایتي مسوول «جیم» سره په کتنه کې پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې. د دې کتنې په ترځ کې د ارزګان دکرنې رییس الحاج مولوی عبدالصمد مقبول په دې ولایت کې د مدیرا مؤسسې کرنې وسټایل او د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د نورو پروژو د پلي کېدو غوښتنه وکړه. په همدې حال کې ارزګان کې د مدیرا مؤسسې ولایتي مسوول جیم د ارزګان دکرنې ریاست له چارواکو څخه په مننې په دې ولایت کې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د پروژو د پلي کولو ژمنه وکړه.

## له حیرتان بندره د ورځې لس زره ټنه انتقالات کېږي



د یاد ولایت د اوسپنې پټلۍ اداري رییس محمد شفیق محمود وایي، چې د روان ۱۴۰۲ کال په تېرو ۱۱ میاشتو کې د حیرتان بندر له لارې ۲،۸ میلیونه ټنه صادرات او واردات شوي دي. د هغه په خبره، په بشپړ ډول د یادې پټلۍ تر رغونې وروسته به لا اسانتیاوې رامنځته او د ټرانزیټ کچه به لوړه شي.« تېر ۱۴۰۱ کال کې مو دري میلیونه، ۴۶۱ زره ۷مخ

## د افغانستان بانک نن ۱۶ میلیونه امریکایي ډالر لیلاموي



د افغانستان بانک د افغانیو پر وړاندې د ډالرو د ارزښت د کمښت په موخه، د یکشنبې په ورځ د روان کال د کب په ۱۳مه، (۱٦) میلیونه امریکایي ډالره د لیلام په ډول پلوري. دغه بانک نن باختر آژانس ته د یوې خبرپاڼې په استولو سره، په شرایطو برابر له ټولو ۷مخ

## د ملي شتمنیو ساتنه د هر وګړي دنده ده

**شـریعت :** هر هېواد په کور د ننه ملي ارزښتونه لري او وګړي یې د خپلو تولید شویو شیانو ( مال او پیسو) ښه ساتنه کوي او ډېر ورته ارزښت ورکوي، خو په افغانستان کې بیا برعکس ده چې د خپلو افغانیوو په پرتله بیا ارزښت بهرنیو بانکنوټونو ته ارزښت ور کوي. خپله پوهېږي چې هېواد مو د نورو نړۍ په څېر ځواکمن اقتصاد نه لري، ولې بیا هم دوی خپل هویت چې افغانۍ ده، ساتنه یې نه کوي. دا یې فکر کې نه راځي چې د همدې ۷مخ

## سږ کال ۳۰۰ بهرنیو ګرځندویانو له غزني لیدنه کړې

د غزني ځایي چارواکو دغه ولایت ته د بهرنیو ګرځندویانو د ورتګ له ډېروالي خبر ورکړی دی. د یاد ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس ملا حمیدالله نثار ویلي چې په هېواد کې د سرتاسري امنیت ټینګښت د ګرځندویي کلتور د غوړېدو سبب شوی دی. نثار زیاته کړې، چې د روان لمریز کال له پیله تر اوسه پورې د ښځو په ګډون ۲۹۳ بهرنیو ګرځندویانو د غزني له تاریخي ځایونو او طبیعي منظرو څخه لیدنه کړې ده. نوموړي همدارنګه ویلي، چې د یاد شمېر ګرځندویانو ډېره برخه د روسیې، ایران، چین، سویلي کوریا او اروپا اوسېدونکي جوړوي.
د یادونې وړ ده، چې د انګلستان، استرالیا، هندوستان او امریکا ۶ ګرځندویانو د غزنې له ولایته لیدنه کړې وه. د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت تر بیا واکمنېدو وروسته هېواد ته د بهرنیو ګرځندویانو راتګ په بې ساري ډول ډېر شوی دی.



## د صبریو اوسېدونکو ته کاري زمینه برابرېږي

د خوست دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وايي، چې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري په همکارۍ د دې ولایت د صبریو په ولسوالۍ کې د واټر شیډونو جوړولو چارې پیل شوې دي. د خوست دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوی محمد زمان عمري په داسې حال کې، چې د کرنې وزارت د ځنګلونو د تنظیم رییس امان الله امانیار، د څرځایونو د تنظیم رییس سیداحمد خالد او د ملګرو ملتونو سیمه ییزو چارواکو یې ملتیا کوله له دغو واټرشیډونو څخه لیدنه وکړه. ددې پروژې د پلي کولو موخه خلکو ته دکار زمینه برابرول او په ټوله کې د څرځایونو، ځنګلونو او طبیعي سرچینو پراختیا او خوندیتوب ښودل شوی دی.

## رویدادهای خارجی

## د غزې جګړه کې ۹ زره ښځې شهیدانې شوې



ملګرو ملتونو کې د ښځو استازولۍ نن شنبې په خپل تازه راپور کې ویلي، چې د غزې په روانه جګړه کې شاوخوا ۹ زره ښځې شهیدانې او زرګونه نورې ټپیانې شوې دي. جګړه کې دغه راز سلګونه زره نورې مېرمنې کونډې او بورې شوې او یا هم له خپلو مېنو بې ځایه شوې دي. تېرو نږدې پنځو میاشتو کې زرګونه ښځو د جګړې په ډګر، د کډوالو پنډغالو او نورو نامناسبو ځایونو کې ولادت کړی، چې له سختو ستونزو سره مخ شوې دي. غزه کې د صهیونستي رژیم له لوري د مېرمنو وژنه په داسې مهال روانه ده، چې په خپله اسراییل او نور نړیوال ملګري یې په نوره نړۍ کې د ښځو د حقونو لپاره چغې وهي.

**ابو عبیده:** د صهیونیستي رژیم بمباریو کې د دښمن ګڼ شمېر بندیان وژل شوي



د فلسطین د مقاومت کوونکې حماس غورځنګ ویاند ابو عبیده په تازه څرګندونو کې په ډاګه کړې، چې د صهیونیستي رژیم وروستیو بمباریو کې د دښمن اووه اتنه بندیان وژل شوي دي. ابو عبیده د درې تنه بندیانو نومونه اعلان کړي او په خبره په دغو وژل شویو بندیانو کې یې یو د صهیونیستي رژیم د لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو نږدې ملګری و. نوموړي زیاته کړې ده، چې موږ له وړاندې د بندیانو د ساتنې مسوولیت لرونکو مجاهدینو سره د اړیکې قطع کېدو اعلان وکړ او باور مو درلود، چې د صهیونیستي عسکرو بمباریو کې به بندیانو ته مرګ ژوبله اوښتې وي. باید وویل شي چې د اسراییلي اشغالګرو په هوایي بریدونو کې تراوسه پورې تر ۷۰ ډېر حماس سره بندي اسراییلي وګړي وژل شوي دي.

## ایران کې د ټاکنو رایه شمېرنه لا هم روانه ده



د ایراني رسنیو د راپورونو په حواله دغه هېواد کې د پرونیو ټاکنو چې پایله کې یې د خبره ګانو شورا غړي او د استازو جرګه ټاکل کېږي، د کارول شویو رایو شمېرنه لا هم روانه ده. دغه ټاکنې په ۳۱ ولایتونو، ۲۹۰ حوزو او ۵۹ زره ټاکنیزو سایټونو کې ترسره شول او میلیونونو ایرانیانو په کې خپلې رایې وکارولې. ابراهیم رییسي الجزایر هېواد ته د خپل رسمي سفر تر پیل کولو وړاندې رسنیو سره په خبرو کې په دغو ټاکنو کې د خلکو پراخ حضور د ستاینې وړ بللی او مبارکي یې ورکړې ده. د ټاکنو د امنیت لپاره سلګونه زره امنیتي پرسونل په دنده ګمارل شوی وه او د ایراني امنیتي چارواکو په خبره ټاکنې په امن کې ترسره شوې دي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!